



# تر ۲۰۱۹ م کال پورې

# لوی افغانستان

# ولې جوړ نه شو؟

Ketabton.com

یډیویي وینا:مشال خان ټکر(د لوی افغانستان د غورځنګ مشر)
ایپ او ایډیټ کوونکی: محمد "مشال"

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ برخه

**د افغانستان ددولت او خلکو لاس یا رول د لوی افغانستان**

**په نه جوړېدو کي**

# دوهمه برخه

**د محکوم افغانستان یا کوزي پښتونخوا د تش په نامه قام پرسته مشرانو رول د لوی افغانستان په نه جوړېدو کي**

# دريمه برخه

**افغان**

**پښتون،پختون،پشتون**

# څلورمه برخه

**د پښتنو او بلوڅو ورونو وررولي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان د دولت او خلکو لاس یا رول د لوی افغانستان په نه جوړېدو کي:



ګرانو وطنوالو د قامونو په عروج او زوال کي د قامي تاریخ لویه برخه ده د خپلو قامي روایاتو او د خپلو اسلافو د ځلانده کارنامو او د هغوی د اشتباهاتو نه ځان خبرول او د خپلو مشرانو د شجاعت،جرءت،جد و جهد، او مبارزې ته موفقیت حاصلول د قام د افرادو یو ضروري او خوشخواره فرد ګڼلی شي ددنیا د نورو نومیالیو قامونو په شان پښتون هم یو نومیالی او د اوږد تاریخ درلودونکی قام دي ،ولي له بده مرغه ددې قام پخوانی تاریخ ډېر په تیاره کي پروت دي ولي هغه خلک چې څومره هم د پښتون د قامي تاریخ نه خبر دي ،زه دا د هغوی قامي،ملي،اخلاقي او تاریخي فریضه ګڼم چې خپل ولس له هغې خبر کړي.

ګرانو وطنوالو پرونۍ هلي ځلي ننی تاریخ دي او ننۍ هلي ځلي سبانی تاریخ دي.نو چي څوک د خپل تاریخ نه خبر نه وي نو هغه داسي دې چي هغه خپله حافظه له لاسه ورکړې وي او چي څوک خپله حافظه له لاسه ورکړي هغو ته لېونیان ویلی سو نو چي څوک لیونی وي نو د هغه دا حق نه جوړیږي چي د خپل وطن د حال او مستقبل لپاره څه وکړي.

وای هغه خلک چې د خپل تاریخ نه زده کړه ونکړي نو کومي غلطۍ چي سوي دي هغه بیا بیا تکراروي.

ګرانو وطنوالو د امریکا یو جمهور رئیس روزولټ وایي چي کوم بنده د تاریخ نه خبر وي نو هغه د خپل وطن د راتلونکي لپاره ډیري ښې منصوبې تیارولای سي .یوه ورځ ویسټرن چرسن ته یو سړی راغلي چې موږ د راتلونکو پینځو ۵ کالو لپاره یو څه منصوبات تیارول غواړو نو هغه ورته وویل چې پنځه کاله وروسته لاړ شه او د خپل تاریخ نه ځان خبر کړه او بیا د راتلونکو څو کالو لپاره منصوبه تیاروه .

او په سورة الاعراف کي په رکوع نمبر ۱۳ کي خدای پاک ج وایي چي هرهغه قوم چي کوم د تاریخ نه زده کړه ونکړي او د هغې کي چي کوم هلي ځلي شوي د هغې د مشاهدې نه ځان خبر نکړي نو خدای پاک ج وایی چي زه په ذهن باندي مهر لګوم بیا هغوی هغه خبري نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوري چې کومي د اوريدو قابل دي او هغه شيان چې د ليدو قابل وي هغه به بيا په نظر نه ورځي .

ګرانو وطنوالو زما د ننی بيانيې موضوع ده چې تراوسه اخر لوی افغانستان ولي جوړ نسو؟

نو ګرانو ورونو او خويندو دلته چې څنګه افغانستان په دوو ځايونو کي پروت دي چې يوه ته محکوم افغانستان ويلی شو او بل ته ازاد افغانستان ويلی سو ،نو په دې وجه زه لګيا يم په دې اوله برخه کي زه کوشش کوم د ازاد افغانستان په باره کي خبري کوم چې ولي کومي غلطی سوي دي چې تراوسه لوی افغانستان جوړ نسو او په دوهمه برخه کي زه د محکوم افغانستان يا کوزي پښتونخوا په باره کي خبري کوم چې د کوزي پښتونخوا کوم رول وو چې لوی افغانستان جوړ سوی نه دي .




ګرانو وطنوالو د لوی افغانستان باني يا بنسټ اېښودونکی زموږ ستربابا احمدشاه بابا دي . احمدشاه بابا چې کله خواست کړي وو نو هغه د پشتنو ټولو قبيلو ته خواست کړي وو چې د خدای لپاره ننګ وکړې او يو موټي شئ!او هغه په دې کي کامياب سوی هم وو احمدشاه بابا د ټولو واحد باچا دي چې هغه د پښتنو ټولي قبيلې د ورورولۍ او عزيز ولۍ په مزي کي پېيلي وې ،د عزيزولۍ لفظ د بابا له وخته موږ ته په وراثت يا په ميراث پاته دي . احمدشاه بابا د لر پښتنو ته د لر درانيان ويل او د احمدشاه بابا په لوی افغانستان څلور مرکزونه وو يو کندهار دوهم کابل دريم پېښور او څلورم کوټه وه خو پېښور د افغانستان د اقتصادي،تجارتي او ماشي مرکز وو د احمدشاه بابا د مرګ نه وروسته د هغه زوی تيمورشاه باچا سو هغه پلازمينه د کندهار څخه کابل ته راوړه چې اته مياشتي تيمورشاه به په کابل کي ناست وو او څلور مياشتي به په پېښور کي وو پېښور د افغانستان سرمايوي پلازمينه وه زه به نور په تفصيل کي نه ځم خو چې هرکله په ۱۹ سده کي چې کله انګرېزانو د هند نه پښې راچاپېره کړې هغوی د خپلو ستراتيژيکو ګټو لپاره افغانستان ته سترګي خړي کړې نو چې کله يو هيواد بل هيواد تبا کوي نو اول د هغه په اقتصاد بريد کوي نو چې کله انګرېزانو افغانستان ته سترګي خړي کړې نو اول انګرېزانو د رنجيت سينګ په واسطه پر پېښور په کال ۱۸۳۴ م کي قبضه وکړه چې د افغانستان اقتصادي ملا ماته کړي په هغه وخت کي د پېښور مشران ددوست محمد خان ورونه سلطان مامور خان او سلطان يارمحمد خان وو هغوی رنجيت سينګ ته موږ پرېښودو او جلال اباد ته راوتښتېدل پر موږ ۸۷ کاله باچاهي يا کندهار کوله يا کابل راباندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله خو چي غلامي شوه هغه افغانستان موږ ته پرېښوده خو د افغانستان ولس راپانځېده .بیا بریتانوي استعمار پر دوست محمد خان باندي اولنی جنګ په کال ۱۸۳۹ کي وروتپي چي د نتیجي نه يې تاسي خبر یاست زه پرې نور بحث کول نه غواړم .

په ۱۸۵۷ کي چي په هندوستان کي اولنی د ازادئ جنګ وو نو هغه جنګ دوه کاله او دوه میاشتي جاري وو د انګرېزانو خلاف د یاغیانو د یوځ مشر بخت خان یوسفزی وو خو چي انګرېزانو ته پته ولګېده چي جنګ خو هسي هم بایلو نو د لندن نه د East Indian governor جرنیل ته له لندن نه مکتوب راغلي چي جنګ خو هسي هم بایلوو نو تر اباسین پوري چي کومي څمکي موږ د افغانستان نه موږ نیولي دي افغانستان ته يې واپس ورکړې چي د مستقبل لپاره د افغانستان سره زموږ ښه تعلقات،اړيکي پاته  شي نو هغه ورته وویل چي څوک يې وغواړي نو موږ به يې ورکړو خو چي د افغانستان امیر امیردوست محمد خان يې نه غواړي نو ولي يې ورکړو په هغه وخت کي امیر دوست محمدخان د انګریزانو نه د کال تر ۱۰ زره پونډه د میاشتي وظیفه اخیسته خو د افغانستان ولس په امیر دوست محمد خان پسي راپانځېده چي ولي د خپلي څمکي تپوس نه کوې؟

په کال ۱۸۹۳ کال کي امیر عبدالرحمن خان د کوزي پښتونخوا پر سر له انګرېزانو سره معامله کوي خو دافغانستان ولس په امیرعبدالرحمن خان پسي راپانځېده.


امیر عبدالرحمن خان

په کال ۱۹۱۴ م کي اول نړیوال جنګ شروع سو نو د جرمني ،هنګري،استریا او د ترکیې یو هیئت افغانستان ته راغلل او حبیب الله خان ته يې وویل چي پر خپل څمکه تر اباسین پوري ورسه او موږ هرډول کومک کولو ته تیار یو خو امیر حبیب الله خان د انګرېزانو ددوستی او خپلو د تخت او شبابو د سر نه د ډیورند څخه تر اباسین پوري خپل ولس قرباني کړ خو د افغانستان ولس راپانځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۱۹ م کال کې چې امان الله خان د انګرېزانو خلاف د جنګ اعلان وکړ نو د هغه د جنګ اعلانيه په پېښور کې خپره سو او د ډيورنډ نه نيولې تر اباسين پورې ټول پښتانه د امان الله خان سره راپاڅېدل تر دې چې د قبايلو ملېشه او خاصه دار چې هغوی ته به پيسې انګرېزانو ورکولې خو هغوی هم د امان الله خان په ملاتړ ودرېدل خو په ۸ د اګست ۱۹۱۹ کې امان الله خان د علي احمد جان په واسطه له انګرېزانو سره معامله وکړه او د کوزې پښتونخوا پښتانه يې پر ځای پرېښودل خو د افغانستان ولس امان الله خان پسې راپاڅېده.



ما يو څو ورځې مخکې په طلوع تلويزيون يوه خبره واورېده چې اصف وردک پکښې هم شامل وو نو شاپور بختيار پوښتنه وکړه چې موږ په ۱۹۱۹ م کال کې استقلال واخيست نو د څه استقلال!؟ د نيم نه زيات افغانستان د ډيورنډ نه ښکته پروت دې د نيم افغانستان استقلالو استقلال نه دې نو آصف وردګ ورته وايي چې دا زموږ بې ناموسي او بې غيرتي وګنه چې موږ د خپلې ځمکې پوښتنه نه کوو نو بيا آصف وردک ورته وايي چې امان الله خان سره چې څوک ولاړ وو هغه هم د کوزې پښتونخوا پښتانه ورسره ولاړ وو او موږ پر ځای پرېښودل او موږ د استقلال په نامه ترې واپس راغلو.   بيا امان الله خان د بچه سقاو نه کندهار ته ځې نو اول ورسره کندهاريان نه راپاڅېدل چې ته د يو ډاکو نه راوتښتېدې ؟ خو بيا چې هغه وويل چې زه هرات ته ځم نو بيا د ننګه کندهاريان ورسره راوپاڅېدل او پر غزني وروختل خو هلته سليمانخيل ددوی خلاف ودرېدل او بيا امان الله خان ماته وليدل او بيا د مايوسۍ حالت کې هندوستان ته لاړ .

ګرانو وطنوالو په کال ۱۹۲۹ م کې زموږ قبايلو ورونو بچه سقاو ته ماته ورکړل او نادرشاه چې د کابل نه بهر وو هغه يې راوستې اود کابل پر تخت يې کښېنوې خو بيا نادرشاه ورته پښې واړولې او د کابل نه يې وايستل خو د افغانستان ولس راپاڅېدې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کال ۱۹۴۷ م کي چي پاکستان جوړېدې نو د افغانستان دولت د خپلي ځمکي تپوس يا پوښتنه ونکړه او بيا چي کله د پاکستان ګورنر جنرال سکندر ميرزا کابل ته راغلې نو ددولت په ډوډۍ کي ظاهرشاه هغه ته وويل چي د پاکستان په ځمکه زموږ هيڅ دعوه نسته خو د افغانستان ولس په ظاهرشاه پسي راپانڅېده.



دپاکستان او هندوستان ترمنځ د کال ۱۹۶۵ جنګ کي ظاهرشاه پاکستان وويل چي تاسي خپل ټول عسکر د ډيورنډ کرښي نه جنګ ته بوزي او موږ به دا سرحد درته ساتو خو د افغانستان ولس په ظاهرشاه پسي راپانڅېده .

په ۱۹۶۵ م کال کي حزب خلق ډيموکراتيک افغانستان منځته راغلې چي په هغه کي نورمحمد تره کي او ببرک کارمل دواړه سره شامل وو په کوزه پښتونخوا کي ببرک کارمل د باچاخان د کورنۍ سره اړيکي درلودې او د خلق پارټي مشرانو په خان عبدالغفار خان او خان عبدالولي خان ته به يې خانان دوسره ويل چي يوه طرف ته هم خان لګېدلي او بل طرف ته هم خان لګېدلي .

او چي کله په ۱۹۷۱ م کال کي په مشرقي پاکستان کي جنګ وو او د پاکستان او هندوستان په مشرقي پاکستان او هم په مغربي پاکستان کي د جنګ محاذونه خلاص شوي وو نو په هغه وخت کي د قبايلو يوه جرګه باچاخان ته کابل ته راغلل چي موږ ته وسله راکړې او موږ به پر پاکستان ورسو او خپل وطن آزاد کړو خو باچاخان ورته وويل چي خبردار پاکستان ته په مغربي محاذ کي څه مسءله يا ستونزه جوړه نکړئ نو بيا دا جرګه ظاهرشاه ته لاړل او هغه هم د باچاخان خبره ورته وکړل ،بيا ظاهرشاه د پاکستان سفارت ته مکتوب وليکې چي زموږد اړخ نه بلکل بېغمه اوسې خودافغانستان ولس په ظاهرشاه پسي راپانڅېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا په همدغه ۱۹۷۱ کي ذوالفقار علي بوټو د پاکستان صدر سو نو هغه اولنی سفر افغانستان ته وکړ چي د افغانستان شکریه اداکړي چي په کال ۱۹۷۱ کي یې د پاکستان مرسته کړې وه او بیا په ۱۹۷۲ م کال د ذوافقار علي بوټو ښځه چي په درې ورځو سرکاري دوره افغانستان ته راغلې وه او خو بیا هم دغه ذوالفقار علي بوټو چي په کال ۱۹۷۳ کي نصرالله بابر ته ویلي وو چي کال ۱۹۹۳ رانژدې دي او افغانستان به تر اباسینه پوري د خپلي ځمکي تپوس او پوښتنه کوي ځکه چي د ډیورنډ معاهده ۱۰۰ سل کاله کیږي هغه په ختمېدو ده نو په کار ده چي په افغانستان کي اوربل سي.

ګرانو وطنوالو په ۱۹۷۳ م کال کي داؤد خان په اقتدار کي راځي او هغه د پرچم حزب په اقتدار کي شریکوي په هغه وخت کي شوروي د داؤدخان ددولت ډېره مرسته کول خو شوروي داؤدخان ته ویلي وو چي ته هیڅ قسم پروژه د غرب یوه هیواد په هغه سیمه کي هم مه ورکوه چي کومي سیمي شوروي اتحاد ته مخامخ دي ځکه هغوی به دلته د شوروي خلاف جاسوسي کوي او داؤدخان ورسره دا خبره منلي هم وه او بیا شوروي اتحاد ورته د هندوکش غرونه وشلول او د سالنګ لار یې ورته جوړه کړه څه وخت وروسته داؤدخان د پرچم پارټي ددولت نه وایستل نو شوروي د ایران د کمونیسټ پارټۍ ((توده)) په ذریعه د خلق او پرچم د یوځای کېدلو کوښښونه شروع کړل نو داؤدخان په هغې خبر سو او داؤدخان مسکو ته لاړ او برژنیف ته یې وویل چي تاسي ولي د تودې پارټۍ په ذریعه خلق او پرچم زما خلاف یوځای کوې؟ نو برژنیف داؤدخان ته وویل چي تا خو زموږ سره وعده کړې وه چي هغه سیمي چي شوروي اتحاد ته مخامخ دي نو غرب ته به هیڅ قسم پروژه نه ورکول کیږي نو تا ولي ورکړې؟ نو داؤدخان مېز ته سوک ورکړ او د ملاقات نه راووتی .



چي کله ضیاءالحق دداؤدخان ددولت په وخت کي کابل ته راغلې نو ددولت د ډوډۍ په وخت کي داؤدخان ضیاءالحق ته وویل چي زموږ د پاکستان په ځمکه هیڅ دعوه نشته خو د افغانستان ولس په داؤدخان پسې راپانڅېده .

ګرانو وطنوالو یو لیکوال دی (بروس ریډل) هغه ۱۵ کاله د CIA افسر پاته سوې دي او هغه د څلورو ریس جمهورانو تر اوباما پوري دجنوبي آسیا کي د هغوی مشاور پاته سوې دي هغه یو کتاب لیکلي دي چي نوم یې دي ?What we won یعني موږ څه وګټل ؟هرکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي هغه دغه کتاب وليکي هغه CIA ته دغه کتاب واستوي چي تاسو يې وګورئ چي دې کي خو څه غلطۍ نه دي شوي ؟ نو هغوی چي کتاب وکتې هغوی وويل چي نه په دې کي هيڅ غلطي نشته .نو هغه په دې کتاب کي يو عجيبه خبره کړې ده چي هرکله د مسکو نه داؤدخان راغلې نو د هغه دا کوشش وو چي هغه د ايران په ذريعه د امريکې سره خپل تعلقات ښه کړي نو هغه چي کله د رضا شاه پهلوي سره ملاو يا يوځای سو نو هغه ورته وويل چي زه د راتلونکو لسو کلونو لپاره تاته ۲ ميلیارډه ډالر درکوم او بيا چي کله څه وخت وروسته ورسره ملاو سو نو رضاشاه پهلوي ورته وويل چي د ډيورنډ کرښه ومنه او موږ به تاته ۳ ميلیارډه ډالر درکړو نو داؤدخان ورته وويل چي بس په دې باندي به خبره کوو بيا په دې باندي فيصله وسوه چي په ۱۹۷۸ م کال کي به رضاشاه پهلوي کابل ته راځي او سپټمبر کي به واشنګټن ته ځي او هلته به د ډيورنډ کرښه د بين الاقوامي يا بين المللي سرحد په توګه به امضاء کيږي خو خدای پاک جل جلا له ته بله منظوره وه او اپريل کي د ثور انقلاب وسو او دغسي ددې خلکو دغه پروګرام چي دوی جوړ کړې وو هغه د تاريخ يوه حصه جوړه سوه .




ګرانو وطنوالو په کال ۱۹۷۳ م کي نصرالله بابر دهغه وخت وزير اعظم ذوالفقار علي بوټو وغوښتې چي کال ۱۹۹۳ م راروان دي نو پکار ده چي په افغانستان کي اور بل سي چي بيا جنرال نصرالله بابر د پېښور په بالاحصار کي د احمدشاه مسعود ،استادرباني او ګلبدين حکمتيار سره ملاقات کوي بيا ددوی کسان تربيه کوي پيسې،توپکان ورکوي چي ځئ خپل وطن د اسلام په نوم بربادوې . د ضياءالحق په وخت د زندان نه نصرالله بابر په يوه طريقه د ايران شهنشاه ته يو مکتوب ليکي چي CIA ته ووايي چي موږ درې واړه کسان احمدشاه مسعود،رباني او ګلبدين حکمتيار ښه تيار کړي دي نو چي څه کار هم ترينه اخلي ترې اخيستلای يې سي نو بيا چي د هغوی نه څه کار واخيستل سو؟نور تاسو ته پته ده زه پرې بحث کول نه غواړم .



(c) ketabton.com: The Digital Library

په کال ۱۹۷۸ م کال کي د ثور انقلاب مینځته راځي او نور محمد تره کي د اقتدار په سر کي راځي هغه په مسکو کي د شوروي اتحاد د مشر بریژنس ته وایي چي موږ پښتانه او بلوڅان د پاکستان د جبر نه خلاصوو او پښتانه به د خپل پلار نیکه وطن افغانستان سره یوځای کیږي بیآ نورمحمد تره کي لمنځه وړل کیږي او بیا حفیظ الله امین د حکومت مشر کیږي نو حفیظ الله امین یوه ورځ په افغانستان کي د شوروي اتحاد سفیر ته په یو ملاقات کي وایي چي زه آباسین په خپلو سترګو لیدل غواړم بیا حفیظ الله امین لمنځه ځي او ببرک راځي نو ببرک هم ویل ،چي موږ لر او بر یوځای کېدل غواړو نو بیا ډاکټر نجیب الله مینځته راځي نو ډاکټر نجیب الله هم په کوزه پښتونخوا کي له هغه خلکو سره اړیکي ساتلي وې کومو چي هیڅکله هم لوی افغانستان نه غوښتې لکه د باچاخان او صمدخان کورنۍ .



خو بیا یو داسي واقعه وسوه چي ډاکټر صیب حیران پاته سو او ډاکټر صیب نجیب الله په دې خبره پوه سو چي د هغه سره ډېره لویه دوکه سوېده نو بیا چي راجیوګاندي مړ سو نو ولي خان او ډاکټر نجیب هلته تللي ول خو ولي خان د ډاکټر نجیب سره د ملاو کېدو ډېر کوشش وکړ خو ډاکټر نجیب د هغه سره ملاو نسو نو بیا چي کله اجمل ختک د نوازشریف سره روس ته لاړ نو بیا یې د افغانستان سفارت ته یې وویل چي زه افغانستان ته تلل غواړم نو د افغانستان سفارت خپل دولت ته ولیکل نو هغوی چي د ډاکټر صیب نه تپوس یعني پوښتنه وکړه نو ډاکټر صیب وویل چي راپرې یې نږدئ!.

ګرانو وطنوالو د انقلاب په وخت کي چي کوم افغانان پاکستان ته تللي وو نو د هغوی ځخه ۴۹ سیاسي ګوندونه جوړسوي وو چي په هغوی کي ډېر قام پرست تنظیمونه هم وو نو د پاکستان دا خیال وو چي هسي نه که دا قام پرست ګوندونه کامیاب سي نو هغوی به تر آباسین پوري د خپلي ځمکي دعوه وکړي نو پاکستان نور ټول تنظیمونه ختم کړل نو اووه ۷ سیاسي ګوندونه یې د ISI د مشر اختر عبدالرحمن خان د هدایاتو لاندي جوړسول چي د اسلام په پاک او سپېڅلي نوم د افغانستان د تباهۍ لپاره استعمال کړای سي ،اختر عبدالرحمن هغه جرنیل وو چي د ISI مشر وو او هغه په کال ۱۹۷۹ م کي ویلي وو چي پکار ده په کابل کي اور بل سي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو وطنوالو ! دنیا پاکستان ته ویلي وو چي څومره وسله او پیسې تاسو مجاهدینو ته ورکوې نو هغه به د ISI له لاري ورکوي نو د بهر نه دچي څومره پیسژ او وسله پاکستان ته ملاوېدې،نو هغه به پر ټولو مجاهدینو وېشل کېدې او د هغې زیاته برخه به ګلبدین حکمتیار ته ورکول کېدل .

د CIA یو افسر ګېري شرون وایي چي ما به د پاکستان د کومک نه علاوه دوه لکه ډالره احمدشاه مسعود ته ورکولې دا د وسلې نه علاوه وې او دا لس کاله جاري وې ،په مختلفو هیوادونو په بانکونو کي د مجاهدینو اکاونټونه وو لکه د احمدشاه مسعود په لندن د هغه په اکاونټ کي ۶۰ شپېته میلیونه ډالره وو . ګلبدین او شهنواز تني ته عربستان ۱۰۰ میلیونه ډالره ورکړل چي په نجیب باندي د پوځ په واسطه کودتا وکړي .چي کله په مکه معظمه کي مجاهدین نه رضاء کېدل چي مشترک دولت جوړ کړي نو سعودي عربستان ورته ۲۶ میلیونه ډالره ورکړل نو بیا رضاء شول .احمدشاه مسعود د CIA,ISI ،هندوستان ،ایران او روس ټولو سره به یې معاملې کولې خو ولس به د افغانستان قتلېدی.خو چي څه وخت احمدشاه مسعود قتل کړای سو نو د احمدشاه مسعود د ملګرو دا خیال و چي دا خبره پټه ساتل غواړي خو دوی یو فیصله وکړل چي زموږ دوستان شپږ هیوادونه خبرول پکار دي یعني امریکا،روس،هندوستان،تاجکستان،ایران او ترکمنستان خبرول پکار دي نو امریکا او روس خو د یو بل خلاف وو خو د خپل وطن پر سر له هرچاه سره معاملې کولې .

بیا همدغه د CIA مشر ګېري شرون وایي چي موږ د ډاکټر نجیب په وخت کي غوښتل چي دغه د سالنګ لاره بنده کړو نو موږ په پېښور کي د څمکي لاندي یو استخباراتي مرکز جوړ شوې وو نو په هغه کي زما ملاقات د احمدشاه مسعود د ورور احمدضیاء مسعود سره وسو هغه احمدشاه مسعود زما سره په وایرلیس ملاو کړ نو ما ورسره د سالنګ د بندېدو خبره وکړه نو ګېري شرون وایي چي احمدشاه مسعود وویل چي پنځه ۵ لکه ډالره به راکوې نو دا کار به وشي نو ګېري شروین وایي ما احمدضیاء مسعود ته ۵ لکه ډالره نغدي ورکړل .

ګرانو وطنوالو زه کله نا کله سوچ کوم چي دافغانستان جهاد،دا جهاد وو؟ که دا فساد وو؟او که دا تجارت وو؟ دافغانستان په جګړه کي هرچاه خپلې ګټې ترلاسه کړې،دنصرالله بابر او اخترعبدالرحمن دواړو پلانونه کامیاب سول او افغانستان یې تبا و برباد کړ. امریکې او دهغوی متحدین یې دشوروي اتحاد په افغانستان کي ماته او بیا وروسته د شوروي اتحاد لمنځه وړل ترلاسه کړل.

اسلامي دنیا خوشاله وه چي کمونیزم له منځه لاړ،ایران خوشاله وو چي افغانستان دي همېشه وران وي چي دافغانستان اوبه ایران پراخه توګه استعمالوي. د افغنستان په جنګ کي چي شوروي اتحاد ماته وخوړه نو ۲۳ هیوادونه دشوروي اتحاد او مشرقي اروپا هغه ازاد سول

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ترټولو پاکستان خوشاله وو چي افغانستان یې د کانې یا دبرې زمانې ته ورسوی او تبا او برباد یې کړي چي افغانستان کي کله هم دومره قوي طاقت پیدا نسي چي تر اباسین پوري دخپلي ځمکي پوښتنه وکړي. پاکستاتن دافغانستان دانقلاب څخه نوري هم ډېري زیاتي ماشي، اقتصادي ګټي واخیسالې او تر دې چي اتوم بم یې هم جوړ کړ خو دافغانستان راتلونکی د وینو په سېلاب کي ورواچول سو چې هغه وینې تر اوسه رواني دي.

د ډاکټرنجیب الله دولت لمینځه ځي او په ۲۴ د اپرېل په پېښور کي دمجاهدینو حکومت جوړېږي خو دشورویانو دوتلو نه پس امریکا او شورویان دواړه په یو اړخ وو چي په افغانستان کي دمجاهدینو دولت کامیاب نسي.



ګرانو وطنوالو د کال ۱۹۹۲ نه تر ۱۹۹۴ پوري دپاکستان د I.S.I په وینا په کابل باندي هره شپه راکټې اورېدې چي په هغه کي دکابل یوازي ۲۵ زره صرف عام ولس دکابل شهیدان سوي وو چي تفصیل یې دپاکستان د فوج بریګیډیر چي کوم کتاب لیکلی دی بریګیډېر یوسف نو دهغه کتاب نوم دی The bear trap چي تفصیل یې په هغه کي موجود دي. په ۱۱ سپټمبر کال ۲۰۰۱ کي دنیویارک واقعه منځته راځي او امریکا پر افغانستان دحملې تیاري شروع کوي د C.I.A ګېري شرون دخپل سره په هلیکپټر کي په ۲۶ ډسمبر کال ۲۰۰۱ کي پنجشېر ته راځي،دوی سره ۱۰ میلونه ډالره نغدي وې او دوی به دا ډالري په خلکو کي تقسیمولې،دوی سره امرالله صالح او انجینرعارف ملاو سوه خو په شریکه یې کار شروع کړ ځکه امرالله صالح دهغوی سره له مخکي کار کوي. دګېري شرون دعبدالرب رسول سیاف سره هم ملاقات وسو او هغه ته یې څو لکه ډالري ورکړې نور به په تفصیل کي نه ځم،خو امریکې اود هغوی متحدینو په ۷ اووم اکتوبر کال ۲۰۰۱ کي پر افغانستان یرغل وکړ او دطالبانو دولت له منځه لاړ. په ۵ پنځم دسمبر د بی بی سی یو نماینده دکابل نه په سټلایټ ټلیفون وکړ حامدکرزی ته چي په کندهار کي وو وویل چي تاسو د نوي دولت ریس وټاکل سوې خو په دغه ورځ دطالبانو یو هیت حامدکرزی ته راغلی چي طالبان وسله غورځول غواړي،کرزی غوښتل چي دا کار وسي خو په دویمه ورځ د متحده ایالاتو دفاع وزیر رمزفیلډ وویل چي له طالبانو سره به هیڅ قسمه خبري نه کوي،او د افغانستان هغه جنګ سالارانو ته دولت حواله سو چي دهغوی دغلطو کارونو په وجه باندي طالبان پیداسوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانو وطنوالو کرزی ۱۴ کاله په ارک کې ناست وو خو دوی دومره ونکړای شول چې په امریکا او ۴۹ هیوادونو نماینده ګانو باندې د ډیورنډ کرښه په بین المللی سرحد نه

وای منلې او هغوی ته یې ویلي وای چې دا په بین المللی سرحد مه منی خو چې کله د ارک نه وتلو نو ویې ویل چې زه شل ځله پاکستان ته تللی وم او هرځل به پاکستان راته ویل چې ډیورنډ لاین ومنه،خو له بده مرغه کرزی صیب دا خبره ۱۴ کاله وروسته وکړه پکار خو داوه چې دا په اولنۍ ورځ دنیا ته په ګوته کړې وای چې زموږ اصلی ستونزه دځمکې ده چې پاکستان دافغانستان ۴۰ ځلوېښت زره میله مربع ځمکه تر اباسینه پورې نیولې ده نو که چېرې دا ځمکه موږ ته ملاو سي،نو نه به دهشتګردي او هیڅ به نه وي له بده مرغه هغه دا کار ونه کړ او په دغه وخت کې له کرزی سره اشرف غنی هم حکومت کې وو.


یوه ورځ کرزی یو مرکه کوله چې افغانستان او پاکستان Twin brothers یعني جمع(غبرګولی) وروڼه دی،که په پاکستان چاه حمله کوله نو افغانستان به دپاکستان په کومک درېږي،نو په هغه وخت کې د Capital talk دهغه چې کوم انکر دی حامد میر،نو هغه به په کرزی پسي ملنډې وهلې چې کرزی ته ګورئ هغه وایي چې که دپاکستان او بل ملک جنګ وي نو دپاکستان مرسته به کوي خو بیا هم دافغانستان ولس خاموشه پاته سو.



په کال ۲۰۱۴ کې اشرف غنی ته ولس د ریس جمهور په توګه رایه ورکوي خو دولس د رایې قدر ونکړای سو او دجانکېرې په وینا دوه سری حکومت منځته راغلي چې تر اوسه کابینه مکمله نه ده. او چې کله اشرف غنی ریس جمهور سو نو چې کله دپاکستان په دوره باندې ولاړی نو د فوج په Head quarter کې دپوځیانو په یادګار یې ګلونه واچول چې دپاکستان دفوج دلاسه افغانستان ۴۰ کالو راهیسي په وینو کې لمبېږي او دافغانستان ولس غلی پاته سو هیڅ عکس العمل یې ونښودې. دپاکستان ددورې نه پس په لاهور کې په ټلویزیون دپاکستان یو مشهور ژورنالیست احمدرشید په یو پروګزام کې وویل چې اشرف غنی له پاکستان سره د ډیورنډ پر کرښه په رسمي توګه معامله کړې ده. اشرف غنی خو اول خاموش وو خو چې خلکو زیات تر انتقاد لاندې راوستی نو بیا یې وویل چې ما معامله نه ده کړې. خو ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library


اميرعبدالرحمن يادېږي چي کله هغه په ۱۹۹۳ کي د ډيورنډ پر کرښه معامله وکړه خو د ۱۸۹۷ کال پوري دا خبره پټه ساتلې وه. داشرف غنی د معاملې نه پس پاکستان دډيورنډ پر کرښه د اغزن تار لګول شروع کړل خو دافغانستان دولت بلکل خاموش پاته سو او هيڅ داسي عکس العمل يې ونښودې چي د اغزن تار لګول بند سي دا ددې خبري ثبوت دی چي اشرف غنی دډيورنډ د کرښي پر سر معامله کړې ده خوږ دافغانستان ولس خاموش ناست دی.



ګرانو وطنوالو موږ وايو چي مغربی او مشرقی جرمنی سره يوځای سو،خو چي کله په کال ۱۹۴۵ کي پر دوو برخوږ ووېشل سو نوو تر کال ۱۹۹۰ پوري دمغربی جرمنی په پارلمان کي چي دمشرقی جرمنی څومره چوکۍ وې هغه به خالي پرتې وې او موږ دکوزي پښتونخوا خلک چي افغانستان ته راځو نو په وېزه باندي راځو.

دافغانستان په اساسي قانون کي نه ډيورنډ کرښي سته،نه د کوزي پښتونخوا ذکر سته،نه دکوزي پښتونخوا د ولس ذکر سته او نه ډيورنډ نه تر اباسينه دافغانستان د خاوري ذکر شته. تر ننه پوري دافغانستان يو دولت هم په يو بين المللی فورم باندي دلوی افغانستان خبره نه ده پورته کړې.

ملګرو موږ وايو چي شمالی ويتنام او جنوبی ويتنام سره يوځای سو خو شمالی ويتنام او جنوبی ويتنام په دې وجه سره يوځای سول چي شمالی ويتنام يو کمزوری هيواد وو دخپل جدا سوي برخي جنوبی ويتنام لپاره يې ۲۱ کاله مسلح جد و جهد وکړ په دغه جد و جهد کي د امريکې صرف ۳۵۵ ميلياړده خرچه سوې وه.




ګرانو وطنوالو چرچل د افغانانو په اړه څلور خبري کول غواړي هغه وايي چي "دافغانانو دخپل وطن سره ډېره زياته مينه ده" ؤو چي دافغانانو دخپل وطن سره ډېره زياته مينه ده،د ډيورند نه تر اباسينه پوري نيم افغانستان ها خواته پروت دی دهغه تپوس نه کوي دا اوس دافغانانو دخپل وطن سره ډېره مينه ده!؟ دويمه خبره دا کوي چي "افغانان ډېر ښه مسلمانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي" ؤو افغانان ډېر ښه مسلمانان دي داسلام په نوم يې تېر ۴۰ څلوېښت کالو کي خپل وطن تبا او برباد کړ،افغانان ډېر ښه مسلمانان دي. بل وايي چي "افغانان ډېر ښه تاجران دي" ؤو دافغانستان خلک ډېر ښه تاجران دي،خو قام لپاره ځان لپاره نه،چي کښېني نو چي کومه معاهده وي له شاه شجاع نه راونيسه تر ګندمک او ډيورنډه پوري او دا اوس دوه اړخيز امنيتي تړون Bilateral security agreement پوري چي کومه معاهده يې کړې،صرف دخپلو چوکيو لپاره کړې ده د ولس لپاره يې بلکل نه ده کړې. نو زه تاسو ته يوه خبره کول غواړم چي که دا ټولي معاهدې سړی دانه په دانه وګوري نو سړی حيران پاته سي چې اخر دا زموږ مشرانو څه کول؟دوی ته دا خپلي چوکۍ دومره زياتي مهمي وي چې دخپل قام،وطن يې هيڅ خيال نه دي ساتلی فقط يې دچوکۍ خيال ساتلي دي. بل دا وايي چي "دافغانستان خلک په خبرو ډېر تکړه دي" خو همت نشته،دغني خان يو شعر دی وای:

زور هسي پېغور سي چي همت ورسره مل نه سي

ورک هغه مشال سه چي تيارې ورباندي بل نسي

نو په اخر کي زه افغان ولس ته وايم چي اوس هم ناوخته نه دی او دالله جل جلا له په فضل به خپل لوی افغانستان جوړوو او اوس يې وخت راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د محکوم افغانستان یا کوزي پښتونخوا د تش په نامه قام پرسته مشرانو رول د لوی افغانستان په نه جوړېدو کي:**




ملګرو په ۱۸۹۳ کي چي کله د ډیورنډ کرښه پر افغانستان ور وتپل سوه نو چي کوم خلک د افغانستان اړخ ته پاته سول هغوی د افغانستان د قانون لاندي ژوند تېرول شروع کړل خو چي د ډیورنډ نه چي کوم خلک د برتانوي هند اړخ ته پاته سول نو په هغوی پسي انګرېزانو هم چاره راواخیسته نو دهغوی د هډ نه چي کوم ځای پرېکېدی د هغه په پرېکېدلو یې شروع وکړل.

ګرانو وطنوالو بله د قبایلو بدبختي دا وه چي کله به انګرېزانو د قبایلو کومه قبیله ایساره کړه نو نورو قبیلو به د هغه تماشه کول چي دا زموږ جنګ نه دی په دې وجه ددوی په منځ کي د ورورولۍ او اتفاق زیات کمی وو. چي کومو علاقو ته انګرېزان نشو رسېدای او هلته دهغوی لاسرسی نه وو نو هغوی ته یې علاقه ی غیر نوم کېښود،نور قبایل یې په مختلفو ایجنسیو ووېشل او هر ایجنسي ته یې خپله دارالخلافه،خپله پلازمینه وټاکله او دا ایجنسي یې په مستقیمه توګه له ډهلي سره وتړلې خو ددې ایجنسیو په خپل منځ کي به هیڅ ډول رابطې او سرکونه نه وو او د قبایلو نه ښکته دپښتنو علاقې یې پر ایجنسو او ریاستونو کي ووېشلې او دغه ډول یې د پښتنو لوی کور،د احمدشاه بابا لوی افغانستان یې ټوکر ټوکر کړې.

ګرانو وطنوالو بیا په دې ایجنسیو کي دوی ملایان او پیران په پیسو واخیستل او دغسي دې ملایانو او پیرانو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مسله پر یو کافر انګرېز په څو پیسو خرڅه کړه. بیا په دې قبایلو کي دوی خپل مشران وټاکل او هغوی ته یې چي کوم رشوت ورکول شروع کړل نو هغه رشوت ته یې نوم ماجب کېښود،او دا شملور پښتانه به د میاشتي په اخر کي او یا د میاشتي په اول کي په قطار کي د پولټیکل اجینټ په دفتر کي د ماجب د لفافې د ترلاسه کولو لپاره ولاړ وو او دغسي زموږ قبایل ورونه د قومي وحدت نه جدا کړل سول.چي کله انګرېزان لګیا وو او دپښتنو د بدن نه یې تکړې یا برخي پرېکولې نو په دغه وخت کي په اتمانزو کي دبهرام خان په کور کي یو کس پیدا سو چي دهغه نوم و عبدالغفار خان او دا دکال ۱۸۹۰ خبره ده چي کله هغه په ښه او بد پوه سو نو دهغه د تعلیم سره شوق نه وو دڅلور،پنځه سکولونو(ښوونځیو) نه اتم جوماعت پاس کړې خو نور یې تعلیم ونکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا چي کله لږ زلمی شو نو غوښتل یې چې د خلکو خدمت وکړي نو په دغه وخت کي خلک یا د سپیانو په جنګ راټولېدل،یا د مرزانو په جنګ راټولېدل یا دچرګانو په جنګ او یا به دوی راجمع کېدل په جوماعت کي،نو په دې وخت کي باچاخان چي په دې نوم سره وروسته مشهور سو(عبدالغفار خان)هغه په جوماعت باندي ورننوتی او دملایانو سره یې خپل تعلق جوړ کړی نو په دې وخت کي هغه دیوبند ته ورسېدې او شیخ الهند محمودالعزل او عبیدالالیاس دوی سره یې هم تعلق جوړ کړې په دغه وخت کي به حاجي صیب تورنزی به په پښتنو کي دتعلیم خورولو لپاره مدرسې جوړولې او مرکز یې ورته د مردان په علاقه ګدر کي جوړ کړې وو خو په دغه مدرسو کي به د پښتو ژبې علاوه فارسی او عربی ژبه هم ښودل کېده. دمولوي فضل محمود مخفي په ذریعه د غفارخان دحاجي صیب تورنزي سره تعلق جوړ سونو غفار خان بابا هم غوښتل چي د مرسو په جوړولو کي خپل کردار اداکړي نو اتمانزو کي غفار او دهغه یو ملګری مولوی عبدالعزیز سره یو مدرسه په کال ۱۹۱۰ م کي جوړه کړه خو دوی پکښي اردو ښودل شروع کړل نو دعلاقې خلک په دوی پسي راپاڅېدل چي دا اردو پکښي له کومه ځایه راغلل نو دغسي دغه مدرسه کامیاب نسول .



ګرانو وطنوالو وخت تېرېدې چي کال ۱۹۱۴ م راغې چي اولنی نړېوال جنګ شروع سو او ۱۹۱۹ م کال کي دا جنګ ختم سو نو دوی په هغه وخت کي پر ترکانو باندي ډېر لوی ظلمونه وکړل چي په هغه باندي په مسلمانانو کي او په خاصه توګه دهندوستان په مسلمانانو کي دانګرېزانو خلاف ډېره غصه پیداشوه نو په لکنهو کي یو ملا و چي دهغه نوم مولانا عبدالباری جان و،هغه یو فتوا ورکړه چي هندوستان یو دار الحرب دی چي ددې نه هجرت کول پکار دي نو ټولو خلکو افغانستان ته هجرت کول شروع کړل چي په هغوی کي غفار هم سره د ملګرو افغانستان ته ولاړې نو هلته د هغه ملاقات دامیر امان الله خان سره وسو نو باچاخان وایي چي امیر امان الله پښتو نه وه زده نو موږ چي به څه ویل هغه پرې پوهېده خو موږ ته به یې جواب د ترجمان په واسطه راکوې. امان الله خان دوی ته وویل چي انګرېز زما په څنګ کي د تورمار په شان پروت دی،په ارامه خوب ترې نشم کولای چې اوس مي چیچي،اوس مي چیچي نو زه په یوازې ډول د هغه مقابله نسم کولای زه تاسو ته دوه وړاندیزونه کوم:اول چي تاسي څومره پښتانه دلته هم راغلي یاست نو که تاسي فوج ته ځې نو زه تاسي ته دافغانستان په فوج کي ځانته پلټني جوړوم،که څوک نوکري کوی نو نوکري درکوم او څوک چي درس وایي نو کالجونو او یونیورسیټیو(پوهنتونونو) ته ورننوځئ،نو که دا نه غواړی


(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دویم وړاندیز مي دادی چې زه تاسو ته د کندز او مزار شریف؛دلته ډېري ځمکي دي زه دا تاسو د کوزي پښتونخوا پښتنو ته ورکوم او تاسي دلته خپل حکومت جوړکړئ نو دحکومت لپاره چي څه کول پکار وي نو زه ستاسو سره هغه کول غواړم، ستاسو په حکومت کي به دافغانستان حکومت هیڅ ډول مداخله نه کوي او ستاسو حکومت به بلکل خودمختاره وي او که تاسو دبهرني دولت سره تعلقات جوړول غواړی نو دافغانستان دولت به په هغه باندي هیڅ ډول اعتراض نه کوي نو باچاخان دا خبره ونه منل او د ملګرو سره واپس چارسدې ته ولاړل.

ګرانو وطنوالو په دغو ورځو کي انګرېزانو د حاجي صیب ترنګزی دنیولو پلان جوړ کړې نو هغه بونیر ته ولاړې نوهلته هم انګرېزان پسي لګېدلي وو چې ګرفتار یې کړي نو بیا دهغه ځای نه سوات او بیا مومندو ته لاړ او په سور کمر کي دېره سو او هلته یې د انګرېزانو خلاف هلي ځلي شروع کړلي.باچاخان چي واپس چارسدې ته راغلې نو دانجمن اصلاح افاغنه بنسټ کېښود چي دوی به مکتبونه جوړول او بیا همدې انجمن(اصلاح افاغنه) باچاخان ته دفخرافغان خطاب یا لقب ورکړې.

ګرانو افغانانو دانجمن اصلاح افاغنه ریس عبدالاکبر خان اکبر او جنرل سکرټر یې محمد اکبر خادم وو بیا په کال ۱۹۲۷ م کي د افغان جرګې بنیاد کېښودل سو چي په خلکو کي غلط رواجونه او دهغو استعمال بند کړي او بیا په کال ۱۹۲۹ م کي د خدایي خدمتګار بنسټ کېښودل سو چي دا به یو غیر سیاسي جماعت وي،دوی به باوردي وي او دانجمن اصلاح افاغنه او افغان جرګې حفاظت به کوي.افاغان جرګې په کال ۱۹۲۸ م کي پښتون رساله راویسته هغه ډېره مشهوره سوه او بیا امان الله په افغانستان کي دپښتون په نوم هم رساله راویسته نو په هغې باچاخان وویل چي دوی ولي زما د رسالې نوم پرې کېښود نو بیا باچاخان دخپلي رسالې نوم پښتون غږ کېښود. دخدایي خدمتګار په وجود راتلو کي دوه متضاد خبري دي،باچاخان وایي چې زه په حجره کي ناست وم چې د اتمانزو درې ځوانان راغلل چې دیوه نوم عبدالاکبر خان وو دبل سرفراز خان او دریم نوم حواب ګل وو دوی ماته وویل چي یو تنظیم جوړول غواړي نو ما ورته وویل چې لاړ شئ او ښه سوچ وکړئ او یوه میاشت وروسته راسئ نو چي کله یوه میاشت وروسته راغلل نو موږ سلا وکړل چې تنظیم خو جوړوو نو نوم به یې څه وي؟ نو باچاخان وایي چي پر مختلفو نومونو غور وشو خو زما ذهن ته دشپې یو نوم مخي ته راغلې چې هغه خدایي خدمتګار وو او دغسي ډول موږ ورته خدایي خدمتګار نوم کېښودې،خو ولی خان په خپل کتاب کي بل څه لیکي هغه وایي چي په لاهور کي دهندوستان د کانګرس دپارټۍ جلسه وه په هغې کي دافغان جرګې غړو هم ګډون کړې وو نو هغوی دکانګرس ددې جلسې نه ډېر متأثره سول نو چي کله دوی واپس راغلل نو په اتمانزو کي یې جرګه راوغوښتل او په اتمانزو کي یې دخدایي خدمتګار بنسټ کېښود نو چي اوس باچاخان سم وایي یا ولي خان سم وایي،فیصله پر تاسو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانو وطنوالو په کال ۱۹۲۹ م کې عبدالصمدخان اچکزی سیاست ته راودانګل، د باچاخان او عبدالصمد خان لومړی ملاقات د ګاندي په کور کې په ډهلی کې شوی وو هر یوه په هغه پسي منډي وهلې او په ګاونډ کې به خپل ورور افغانستان ته نه ورتلل ځکه چې هغه غریب او کمزوری وو او دوی دواړو بیا د کانګرس او ګاندي دومره خدمتونه وکړل چې یوه ته به یې سرحدي ګاندي وایه او بل ته به یې دبلوچستان ګاندي وایه،څومره ښه خبره به وای چې دخپل پلار نیکه وطن افغانستان ته یې دومره خدمت کړې وای چې یو به دسرحدي احمدشاه بابا او بل ته به دبلوچستان احمدشاه بابا په نوم باندي مشهور سوي وای خو له بده مرغه داسي ونه شوه. چې کله دباچاخان خبري دکانګرس سره شروع وې نو ده ته درې انګرېزان راغلل او ورته یې وویل چې تاسو هرڅه غواړئ موږ یې درکوو خو دکانګرس سره مه شاملېږئ،خو باچاخان دا خبره ورسره ونه منل،په کال ۱۹۳۰ کې باچاخان د کانګرس سره تړون وکړې نو دخپلي غلطی د پټولو لپاره باچاخان وایي چې موږ اول مسلم لیګ ته لاړو خو هغوی زموږ مرستي ته تیار نه وو بیا وایي چې موږ ته صاحبزاده عبدالقیوم خان خبر راولېږی چې کانګرس سره شامل سئ که نه نو انګرېزان مو وژني خو اروا ښاد ډاکټر راجولي خټک وایي چې ددې دواړو خبرو هیڅ ثبوتونه نشته دا صرف دخپل غلط کار دپټولو لپاره یوه بهانه او پروپاګنډه وه.



**لیکوال او څېړونکی**

**(ډاکټر راج ولی شاه خټک)**


ګرانو وطنوالو دکانګرس د الحاق نه وروسته دوی یوه جرګه راوغوښتل چې په هغه کې یې داخبري پېش کړې یا وړاندیز کړې چې موږ د کانګرس سره الحاق وکړی او دافغان جرګې نوم دي کانګرس جرګه کېښودل سي،نو اول خو چې هلته کوم یوه کسان ناست وو نو هغوی ورته وویل چې کانګرس سره یوځای کېدل نه دي پکار او بیا هغوی وویل چې د افغان جرګې نوم بدلول نه دي پکار خکه چې هندوان به زموږ سره دوکه وکړي او د اعتبار خلک نه دي خو باچاخان دخپلي خبري څخه نه اوښتې نو بیا ورته دغه مشرانو وویل چې ته بیا هم نه کرارېږې نو خیر دي دکانګرس جرګه ځانته جوړ کړه خو دافغان جرګه!خدای ج ته وګوره مه ورانوه!خو باچاخان دا خبره ونه منل خو هغه خپل ټول ملګري د کانګرس نه قربان کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه میا احمدشاه، عبدالاکبرخان اکبر،خانمیر هلالي،سمندرخان سمندر،محمداکبر خادم او غلام محمد لورخوړ دباچاخان څخه په دې خپه سول چې ته ولي له کانګرس سره ملاو(یوځای)شوې او دغه ټول وکړي چي دافغان جرګې او انجمن اصلاح افاغنه ستني د کانګرس دجرګې نه او دخدایي خدمتګارو نه ووتل . ګرانو وطنوالو محمد اکبر خادم یوه ټپه لیکلې ده،وای:

چي باچا امام زه مقتدي ومه او ګاندي امام سو ځکه ځانته نیت تړمه

دباچاخان په مشهورتیا کي دمحمداکبر خادم ډېر لوی لاس وو دوی به هرځه لیکل خو نوم به پرې د باچاخان کوې ځکه چي باچاخان دمشرۍ ډېر زیات شوقي وو. محمداکبر خادم د عدم تشدد ډېر زیات خلاف وو نو هر کله چي محمداکبر خادم زندان ته لاړ نو هغه یې دومره وهلي،ټکولي وو چي هغه لېونی سو نو چي د زندان نه راخلاص سو نو سوات ته څه وخت لپاره لاړې نو دهغه ځای نه هغه عبدالاکبرخان اکبر ته مکتوب لیکلی دی چي هغه داسي دی:اکبرصیب!تاته ښکاره ده او خصوصاً زما پر ذهن باندي ستا پوره پوره تصرف او قبضه ده نو زما اوس همهغه ذهن دی،هغه خیال او هغه ایمان دی بدل سوې نه دی خو زه څه وکړم،ازماست کبرماست،چي څه ما کړي نو دهغې سزا ماته ملاوېږي،خیال زما په قبضه کي او لاس او ژبه مي د باچاخان لپاره چلول چي هغه مي دومره په ځان او قام کي دروند کړ چي زما او دقام دواړو ستي یې ماتي کړې او په خپله هم ګړنګ ته پرېوت.بیا هم که دټولو اواز یو وي نو زه به دومره مایوس نه وای ځکه په اتفاق کي ډېر لوی برکت وي خو له بدبختۍ نه هغه خبره منځته نه راغله خو دلته بله خبره هم وه امان الله په کوزه پښتونخوا کي هم ډېر زیات مشهور وو نو کله چي هغه دتخت نه لاړې نو په کوزه پښتونخوا کي په کورونو کي به ژړاګاني وې او چي کله نادرشاه راغلې نو هغه به خلکو ته ویل چي زه کله بچه سقاو ولاړ کم نو زه به امان الله خان واپس راولم نو چي کله بچه سقاو ولاړ شو نو په کوزه پښتونخوا کي په میاشتو غرابینونه خلاصېدل او خوشالۍ وې چي زموږ بچی به اوس واپس راسي نو په دغه وخت کي د انګریزانو یو بیان راغلې چي د صوبه سرحد پښتنو ته چي موږ خو دوی دخپل پلار نیکه وطن نه راجدا کړل دوی ته مو ډېر رشوتونه ورکړل،قسم قسم لالچونه مو ورکړل خو ددوی مخ موږ دکابل نه ډهلی ته راوانه ړوې نو چي کله خدایي خدمتګار دپښتنو مخ دکابل نه ډهلي ته راواړوې نو هغه کار کوم چي انګریزانو نه وه کړې نو هغه باچاخان وکړې.


عبدالاکبر خان اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو وطنوالو ولي خان نه يوه ورځ يو چاه تپوس(پوښتنه)وکړه چې تاسو ولي دا کار وکړې؟

نو هغه په جواب کي ورته وويل چې افغانستان کمزوری وو نو ځکه دا کار موږ وکړ. يعني ورور مي کمزوری دی نو زه زورور دښمن غوره ګڼم،دا هغه ورځي وې چي اېپي فقير قبايلو او نورو ورونو انګرېزان ډزول هلته چي حاجی صيب تورنزي په دېره شفقدر کي پر انګرېزانو چپاوونه کول او دلته زموږ اېرېديو ورونو د انګرېزانو خلاف پر پېښور باندي خېټه راواچول او دلته پکښي باچاخان دعدم تشدد پاليسي راواچوله چې دا د پښتنو ديوځای کېدو خلاف لوی سازش وو او باچاخان په هغه سازش کي کامياب سو. په هغه وخت کي په صوبه سرحد کي دانګرېزانو چې کوم مشر وو نو هغه ته به يې ويل لارډصيب،دهغه نو سټېوټ وو نو ددغه انګرېز سره چې کله د باچاخان ملاقات وسو نو سټېوټ هغه ته وويل چې په لندن کي يو ګول مس کنفرانس دی نو ګاندي به دکانګرس نماينده ګي وکړي،محمد علی به دمسلم ليګ نماينده ګي وکړي او ته به د پښتنو نماينده ګي وکړې،نو باچاخان هغه ته وويل چې نه،موږ خپل اختيار ګاندی ته ورکول غواړو نو باچاخان وايي چي کله ما سټېوټ ته انکار وکړ نو هغه هک پک حيران پاته سو نو بيا چي کله ګاندي تلې نو باچاخان ورته منتونه کول چې دپښتنو خبره هم وکړه خو د ګاندي دماغ خراب نه وو چې د پښتنو خبره يي کول هغه د ۴څلور سوه ميليونه هندوستانيانو خبره ولي نه کول،خو لارډ صيب په دې خبره زيات حيران سو چي ده انکار وکړې ځکه هغه دا سوچ وکړې چي ده موږ کوم مقام ورکړ او ده بيا ځان مځکي ته راوغورځوې،خو تعليم ډېر ښه شی دی چي تعليم نه وي نو څه به ګډوډ وي . نو باچاخان چي لندن ته تللې وای نو هغه به هلته څه ويلي وای؟هغه به دا ويل چي زموږ غلط رواجونه دي په پښتنو کي موږ هغه لېري کوو،دده سره څه اجنډا نه وه دګاندي سره اجنډا وه،مسلم ليګ سره اجنډا وه،دده سره څه احنډا وه؟تاسي خو لږ د خدايي خدمتګار منشور خو وګورئ چي هغه کي څه دي؟ باچاخان خپله وايي چي زه ۱۲ کاله تعليم يافته خلکو پسي وګرځېدم خو زما سره يو کس هم نه راپاڅېد،نو زه بيا کليو ته بې تعليمه خلکو پسي ولاړم او هغه راسره راپاڅېدل. باچاخان وايي چي ګاندي ماته وويل هاون فارن سکرټر او ايمر هوم سکرټر ستاسره ليدل غواړي نو ما ورته وويل چي زه انګرېزانو سره ليدل نه غواړم خو ګاندي وويل چي دا زه چي ورسره وينم نو څه چل وسو؟نو باچاخان وايي چي ما ورته وويل چي ته خو مهاګاندی يې او زه خو کمزوری سړی يم پر ښويدلي ځای پښه نه ايږدم هسي نه چي وښويږم.

ګرانو وطنوالو کله چي د خدايي خدمتګارو د کانګرس سره الحاق وسو نو موږ بيا د کانګرس ډنډه مار سولو،کانګرس چي کله په ۱۲ March ۱۹۳۰ کي د سېول نافرمانۍ اعلان په ډهلی کي وکړې نو اور پر ټکر او قصه خوانی باندي بلېده نو باچاخان وايي نو چي کله موږ د انګرېزانو خلاف د کانګرس سره په شاملېدو کوم پروګرامونه وکړل نو دهغې نه ي،ه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره ثابتېږي چي باچاخان يوه خبره کوي چي موږ کانګرس سره په دې وجه ملاو(يوځای)سولو چي د انګرېزانو نه ځان خلاص کړو دهغو د شر نه ځان خلاص کړو نو دلته يو سوال پيداکېږي چي په ټکر کي جنګ وو نو ايا هغه د کانګرس سره دالحاق نه مخکي وو او که وروسته وو؟په قصه خانه باندي ګولۍ اورېدې نو ايا هغه دکانګرس سره د الحاق نه مخکي وو که وروسته؟ د پښتنو جنازې چي د جېلونو نه راوتلې ايا هغه د کانګرس سره دالحاق نه مخکي وو که پس؟چي پښتانه به انګرېزانو بربنډول او خسيان کول به يې او بيا به يې مخونه ور تور کړل او بربنډ به يې پر خر سپاره کړل او يا به يې په کلي کي ګرځول او يا به يې د خر دپاسه بربنډ کورته لېږل،نو هغه دالحاق نه وروسته وسول او که مخکي وسول!؟ ددې هرڅه په بدل کي باچاخان خپله خاني او مشري کول،قيام الدين خادم به ويل چي باچاخان په سياست خپله لېډري او خاني ساتي.

ګرانو وطنوالو بيا دباچاخان د لارډ صيب ملاقات وو نو په ملاقات کي د نورو خبرو نه علاوه دلارډ باچاخان ته وويل چي موږ د افغانستان او روس له طرفه ډېر خطر دی نو باچاخان ورته وويل چي د افغانستان خو ماته خبره مه کوه ،ولی هغه خو تاته معلومه نه ده چي هغوی خو خپل ځان نسي ساتلای نو پر موږ به څه حمله وکړي؟ نو ګوره بريتانوي هند ته خپل ملک وايي زموږ پر سر حمله وکړي خو د افغانستان وطن ته هغه خپل وطن نه وايي چي دا دهغه د پلار نيکه وطن دې او وو. دخدايي خدمتګار او کانګرس د الحاق نه پس ګاندی باچاخان ته وويل چي د مرکزي اسمبلۍ لپاره يو کس پکار دی نو بيا په پښتنو کي بل څوک نه وو نو بيا باچاخان خپل ورور ډاکټر خان صيب ولېږې،بيا په کال ۱۹۳۷ م کي

په بريتانوي هند کي ټولټاکني کېږي په هغه کي په صوبه سرحد کي کانګرس او خدايي خدمتګار دواړه کامياب سول بيا د صوبې د وزير اعلی خبره راغله نو بيا په پښتنو کي بل څوک نه وو نو بيا يې ډاکټر خان صيب د مرکز نه راوغوښتي او هغه يې وزير اعلی کړ او ډاکټرصيب بيا خپل يو نژدې دوست قيوم خان مرکز ته ولېږې چې بيا دا هغه قيوم خان دی چي د بابړي د قصاب په نوم مشهور دی.

ملګرو د ټولټاکنو نه پس ايبټ اباد کي دهغه وخت صوبه سرحد د وزير اعلی صاحبزاده عبدالقيوم خان خلاف د عدم اعتماد د ووټ(رايو)په خاطر د صوبايي اسمبلۍ اجلاس راوغوښتل سو نو په هغه کي صاحبزاده عبدالقيوم خان يو بيانيه ورکړه چي ولی خان وايي چي زه يې پخپله وښويولم ځکه هغه دومره زبردسته اعلاميه وه چي د ولی خان نه يې هم ور و پر خطا کړې وو نو بيا ولي خبره دا کوي چي د هغه بيانيې په دوران کي هغه زموږ خدايي خدمتګار ته ګوته ونيول چي په دې هال کي داسي کسان ناست دي چي د عظيم پښتون قوم مخ يې دخپل وطن د ډهلی په لور واړوې او بيا چي صاحبزاده عبدالقيوم خان د باچاخان سره ملاو شو نو باچاخان خپله وايي چي عبدالقيوم ماته وويل چي مخکي به ډهلي پښتنو ته کتل چي پښتنو به

(c) ketabton.com: The Digital Library


کومه لاره اختیارول نو ډهلی به هغه لار اختیار کړل خو اوس ستا په وجه پښتانه ډهلی ته ګوري او د ډهلی په فیصلو پسي روان وي.




ګرانو وطنوالو چي کله ډاکټرخان صیب وزیر اعلی سو نو په هغه وخت کي د صوبه سرحد ګورنر جورج کنېنګم یوه ډوډئ کړې وه چي دا به هغه هر کال کوله نو هغه د نورو خلکو علاوه خان صیب ته هم دعوت ورکړ ځکه چي هغه د صوبې وزیر اعلی وو نو ډاکټر خان صیب ورته وویل چي زه دباچاخان صیب نه تپوس(پوښتنه) کوم نو باچاخان ورته وویل چي زه به د ګاندی نه تپوس کوم،نو تاسو سوچ وکړئ چي په یو ډوډئ کي د شرکت لپاره هم هغوی د ګاندی نه تپوس کوي موږ دومره ځان ښکته راغورځولی وو.

یوه ډاکټر جواهر لعل نهرو ته وویل چي باچاخان موږ ته وایي چي د انګرېزانو سره مه ملاوېږئ نو جواهر لعل نهرو ماته وویل چي دا خو تهذیب نه ډېره پرېوتې خبره ده نو بیا ما ډاکټر خان صیب ته وویل چي څه ملاوېږه ورسره. په دغو ټولټاکنو کي په ۱۱ صوبو کي په هندوستان کي په ۸ صوبو کي کانګرس ایلیکشن(انتخابات) ګټلي وو او په قانون سازه اسمبلي کي ددوی مکمله قبضه وه،نو که په دغه قانون سازه اسمبلي کي باچاخان قانوني طور هم غوښتي وای چي موږ ازادي غواړو نو دقانون ساز اسمبلې نه به یې قرارداد منظور کړې وای او دوی به ازادي اخیستې وای خو دوی ذهني طور غلامان وه او دوی ازادي نه غوښتل. ډاکټر خان صیب به ویل چي انګرېزان ډېر پاک او رېښتني خلک دي او ویل به یې پښتانه ډېر دروغجن خلک دي،باچاخان به ویل چي پښتانه ډېر خودغرضه او بې وصوله دي نو اوس دلته یو سوال راپېداکېږي،چي تاسو خو دغو خودغرضو،بې وصولو او

دروغجنو پښتنو مشران یې نو تاسو بیا دهغوی نه هم ډېر زیات خودغرضه،دروغجن او بې وصوله خلک یې ځکه چي تاسو خو دهغوی مشران یاست.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا په کال ۱۹۳۹ ک کي دوهم عالمي(نړیوال)جنګ شروع کیږي نو کله چي هټلر انګریزان په مخه راواخیستل او دلته مسکو ته یو څو میله پاته سول او هلته جاپان په برما قبضه ولګول نو انګریزانو یو سوچ وکړ چي دا ټولي علاقې هسي هم زموږ دلاسه رواني دي نو ښه به دا وي چي د اباسین نه تر ډیورنډه پوري دافغانستان چي کومي علاقې دي نو دا به موږ افغانستان ته پریږدو چي دمستقبل(راتلونکي)لپاره مو پر افغانستان یو احسان پاتي شي نو انګریزانو دظاهرشاه سره رابطه ونیول او دافغانستان دولت دحاجی صیب تورنزي د زوی باچاګل سره رابطه ونیول نو د پېښور یو پیر وو چې دهغه نوم وو پیرحاجی محمد امین خان،نو په دغه دوران باچاګل به دهغه په ذریعه په قبایلو کي او دپښتنو په نورو علاقو کي به د جمعې په ورځو کي دظاهرشاه خطبه ورکوله،ددې واقعې متعلق باچاخان داسي لیکي چي هرکله زه ددې واقعې نه خبر شوم نو ما ولی خان باچاګل پسي ولیږه نو ولی خان وايي چي ماته باچاګل وویل چي زه خو حیران پاته سوم او تاسي ولي ددې مخالفت کوی؟چي انګریزان يې جوړوي خو چي لوی افغانستان جوړیږي نو تاسي په دې باندي ولي خپه يي؟نو بیا باچاخان په خپل کتاب کي څه لیکي؟ چي څه وخت موږ د انګریزانو خلاف سیول نافرماني شروع کړه نو هغه وخت دافغانستان دولت او انګریزانو د ملایانو په ذریعه زموږ خلاف کار شروع کړ او پروپاګنډه به يې کوله"سوچ وکړئ دې خبري ته" وای دسرحد پښتانه او دافغانستان پښتانه دا یو قوم دی او دادي دافغانستان سره ملاو سي،او بیا باچاخان لیکي چي افغانستان د ملایانو په ذریعه د صوبه سرحد په مختلفو برخو کي اشتهارونه خپرول چي دا علاقې دي د افغانستان سره شاملي سي خو دوی ته به انګریزانو هیڅ هم نه ویل او ولی خان دغه واقعه په خپل کتاب کي ذکر کړې چي د انګریزانو او افغانستان دا زموږ خلاف یو لوی سازش وو چي لر او بر دا یو افغان دی او دایو پښتانه دي او دوی دي سره یوځای شي. دوی ورته یو ډېر لوی سازش ویلی دي .

ګرانو وطنوالو دا هغه ورځي وې چي په دغو ورځو کي مسلم لیګ له لاسه دخدايي خدمتګارانو کسان د کورونو څخه یو بهر هم نسو وتلای نو غني خان و باچاخان ته وویل چي یاره دلته دپښتنو یو تنظیم جوړومه چي هغه ستاسو حفاظت کوي چي دا خلک هم لږ څه په ارام شي نو هغه د زلمي پښتون بنیاد کېښود نو باچاخان ورته وویل چي مشر به يې زه یم ته به نه يې،نو غنی خان ورته وویل چي ته يې مشر شه نو اوس دلته یو سوال راپیداکیږي چي زلمي پښتون مکمل د تشدد تنظیم وو او هغه په عدم تشدد عقیده نلرل او بل خو خدايي خدمتګارانو عدم تشدد باندي عقیده لرل خو باچاخان دهغه تنظیم هم مشر وو چي کوم يې په تشدد عقیده لرل او دهغه تنظیم مشر هم کوم چي يې په تشدد باندي عقیده نلرل دا اوس زیاته

د افسوس او زیاته دسوچ خبره ده نو غنی خان وايي چي تنظیم ډېر مخ په وړاندي باندي لاړ نو بیا ده ماته یوه ورځ وویل چي یاره ته جندي ته نه ځې؟ دغني خان په شاعری کي دا جندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیند ذکر ډېر زیات سوې دی،نو ده به دوه میاشتې په اوړي کي دجندي په غاړه به ده هلته خېمه لګول او هلته به ناست وو،نو ده ماته ویل چي ته نه ځې؟نو ما ویل چي بابا نه یخني ده خو هر سهار به له خوبه پاڅېده ده به ویل چي ته نه ځې،نو وای اخر کي داسي کار وشو چي زه لاړم نو یو دوه ورځي وروسته ما پسي دخدایي خدمتګار کسان راغلل او یو کس زما نه پړک وویشت چي زموږ بچي دي دولت ته وښودل چي دا دزلمي پښتون کسان دي او اوس دي زلمي پښتون مات کړ.نو غني خان ورته وایي چي زه خو دهیڅ څخه خبر نه یم زه خو دلته راغلې یم نو غنی خان وایي چي څنګه زه دلته راغلم نو ده په اخبار کي ورکړل چي زلمي پښتون ما ختم کړ.


ګرانو وطنوالو په کال ۱۹۴۶ م کي بیا ټولټاکني وسوې او بیا په صوبه سرحد کي او کانګرس کي دخدایي خدمتګارو حکومت راغلې بیا دصوبې وزیر اعلی ډاکټر خان صیب سو ځکه چي بل څوک نه وو،په پښتنو کي هرکله چي په ۱۹۴۶ سېتمبر کي هندوستان کي عبوري حکومت جوړېده نو باچاخان په چارسده کي وو ناجوړه وو نو ګاندی وایسرای ته وویل چي که باچاخان نه وي راغلی نو زه عبوري حکومت نه جوړوم بیا باچاخان پسي هغه خبر راولېږی او هغه لاړ ځکه چي په دغه وخت کي ګاندي ته د باچاخان ډېر سخت ضرورت وو. ګرانو وطنوالو هرکله چي نهر دانډیا کانګرس مشر سو،صدر سو نو هغه پېښور ته راغلې وو نو هغه د خدایي خدمتګارو یو جلسې ته خطاب کاوه چي تاسي به نور باچاخان ته فخر افغان نه وایاست بلکي ده ته به په فخر هندوستان وایاست ځکه چي ده دهندوستان ډېر لوی خدمت کړې دی،نهرو دا خبره ځکه کول چي لا باچاخان ته دکانګرس ضرورت وو.



ګرانو وطنوالو چي کال ۱۹۴۷ پسي راغلی دکانګرس د لارډمونټ بټن او مسلم لیګ سره دپښتنو په سر سودا وسول چي پنجاب او بنګال راته نیم کړه او موږ به صوبه سرحد پنجاب ته پرېږدو،نو چي کله فیصله وسوه نو د کانګرس د ورکینګ کمېټې مېټینګ(مجلس) راوغوښتل سو او باچاخان هم هغه مېټینګ ته راغلې ځکه هغه د کانګرس دکمېټې غړی وو په دغه مېټېنګ کي راج ګوپالیا،ګاندی،نهرو او مولانا ابوالکلام ازاد هم وو نو چي دوی فیصله واورول نو مولانا ابوالکلام په خپل کتاب India wins freedom کي لیکي:چي دباچاخان خوله بنده پاته سول او ډېر ساعت بلکل خاموش پاته سو چي خبره ترې نسوای کېدلای او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپاڅېدي چي موږ مو دشرمه خولي ته واچولو او تاسو رانه ځان خلاص کړي،نو هغه خبره چي باچاخان پرې خپل ملګري په کال ۱۹۳۰ م کي غورځولي وو هغه خبره ریشتیا سول چي هندوانو ددوی سره دوکه وکړل.



باچاخان او
نهرو ګاندهی

ګرانو وطنوالو باچاخان وايي چي قربانۍ موږ ورکړلي،جايدادونه زموږ ضبط سول،کورونه زموږ وسوځېدل او دا هرڅه موږ د کانګرس لپاره وکړل،دجېلونو جنازې زموږ دخدمتګارو راوړل سولې خو کانګرس زموږ سره دوکه وکړل او زموږ ددې قربانيو هيڅ خيال يې ونکړ.خو زه دلته يوه خبره کول غواړم چي باچاخان دا خبره ټيک(سمه) نه کوي،قربانۍ هغوی نه دي ورکړي ځکه قربانۍ موږ ورکړي دي،کورونه زموږ وسوځېدل،دباچاخان د خاندان دکورنۍ په يو کم سلو کالو په سياسي تاريخ کي ددوی نه يو متر ځمکه لېلام سوې، ددوی دخاندان نه يو کس مړ سوی او نه ددوی کور يا حجره سوځېدلې ده،دا ټولي قربانۍ په وطن مينو پښتنو ورکړې او باچاخان دوی پرې صرف سياست کړې او دپښتنو په سر معاملې او سوداګاني کړي دي. ګرانو وطنوالو باچاخان به په ترخي کي جامې ونيولې،هلته به پروت وو او دلته به يې بهر پښتنو ته اشاره ورکړه چي پرې ورځۍ او پښتانه به قتلېده او تبا کېدل به او چي کله باچاخان سره هندوانو دوکه وکړل نو چي څه وخت رارخصتېده نو هندوانو به ورته ويل چي ځه بچو،تر اوسه مو پښتانه په انګرېزانو ډبول او اوس به مو د انګرېزانو په ناجايزه اولاد پاکستان ډبوو نو چي واپس راغلی "چي هرکله لوی افغانستان وو نو دپښتونستان د چيغي ضرورت څه وو!؟" نو دپښتنو په سترګو کي د دوړو اچولو لپاره د پښتونستان سوږه پرېښودل او مولانا ابوالکلام ازاد همدا په خپل کتاب کي دا ليکي چي دا پښتنو په سترګو کي صرف دوړي اچول وو. باچاخان وايي چي د کانګرس مشرانو په هره اهمه(مهمه) خبره زما سره مشوره کول،نو چي کله يې زموږ په سر سودا کول نو زما سره مشوره خو ډېره لويه خبره ده بلکي زه يې د هري خبري نه بلکل بې خبره ساتلی وم،موږ ته به انګرېزانو دا ويل چي تاسو دکانګرس سره مه يوځای کېږئ او چي تاسو څه غواړی موږ به يې دکانګرس نه زيات درکړو،خو موږ د کانګرس سره يوځای سولو او کانګرس زموږ پر سر سازش وکړی،زموږ سره يې بې وفايي وکړه او غداري يې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو وطنوالو چي څه وخت پاکستان جوړ سو نو غنی خان یوه خبره وکړه چي د پښتنو کورته راغلې ازادي د تورو غرونو پناه سول.

پاکستان جوړ سو او باچاخان په ۲۳ فروری کال ۱۹۴۸ کي د پاکستان د وفاداری قسم د پاکستان په آیین سازه اسمبلي کي پورته کړ او بیا د محمدعلی جناح کورته دهغه سلام ته ورغلی او پاکستان ورته په ۱۲ اګسټ کال ۱۹۴۸ کي د بابړي دشهیدانو تحفه په لاس کي ورکړه. بیا یوه ورځ افراسیاب خټک په قصه خانه کي په ي، بیانیه کي د لر او بر دیوځای کېدو خبره وکړه،نو باچاخان ورپسي خبر راولېږی چي اتمانزو ته ژر تر ژره ځان راورسوي نو افراسیاب وایي چي موږ ورته ورغلو او دی په کټ کي ناست وو او د خولې نه یې اوږ تویېدی چي ستا په دې وړه خوله کي دا دومره لویه ژبه چاه اچولې ده؟ ته موږ دافغانستان دپښتنو سره شاملوې؟هغه خو پخپله پاونده دي،خانه بدوش دي،بیا دوی وایي چي موږ ته یې دا هم ونه ویل چي تاسي کېنی،بیا موږ دهغه ځای نه راووتو نو بیا افراسیاب وایي چي موږ کابل ته راغلو او دا داود خان سره ملا(یوځای) سولو او داود خان ته مو دا خبره وکړل،نو داود خان وویل چي تاسو ته اوس دا پته ولګېدل چي باچاخان لوی افغانستان نه غواړي؟ بیا چي پاکستان په باچاخان باندي ډنډه کېښودل نو ایله ورته هغه پاونده ورور یاد سو او په ۱۲ دسمبر کال ۱۹۶۴ کي کابل ته لاړ.بیا چي کله ناجوړه سو نو هند ته دعلاج لپاره تلې خو پاکستانی پاسپورټ یې ختم سوې وو نو دافغانستان دولت ورته وویل چي موږ درته دافغانستان پاسپورټ درکوو خو ده وویل چي زه دافغانستان پاسپورټ نه اخلم.په دغه دوران کي دپاکستان صدر یحیی خان وو نو باچاخان دهغه د ورور محمدعلی په ذریعه ډېري نژدې اړیکي وې او هغه محمدعلی د صوبه سرحد د استخباراتي ادارې مشر وو نو چي کله به ضرورت پېښېدي نو هغه به خپل مرستیال هدایت الله ارباب کابل ته رالېږي او دهغه سره دپاکستان دسفارت نه شېرزمان ورسره شو او باچاخان ته به کورته لاړل خبري به یې وسولې او هغه به واپس تلی او ریپورټ به یې ولیکي چي څه خبري کول هغوی غوښتل،خو چي کله په کال ۱۹۷۰ کي ون یونټ مات سو نو تر ټولو زیات نقصان یې پښتنو ته ورسېد،یوه حصه یې دبلوچستان سره یوځای کړه او دصوبې نوم بلوچستان کېښودل سو. اود پښتونخوا دوه ضلعې یا ولسوالی اټک او میاواله ي دپنجاب سره یوځای کړه بله حصه یې صوبه سرحد کړ او څلورمه حصه یې قبایل کړل،د نېپ مشرانو په دې باندي هیڅ قسم عکس العمل ونښود.نېپ یعني نېشنل عوامي پارټي،د ولی خان پارټي هغوی په دې باندي هیڅ قسم عکس العمل ونښود او په دې خبره عبدالصمدخان اچکزی ددوی نه جدا سو.

دباچاخان په مقابل کي خان شهید یو ډېر عالم او فاضل انسان وو خو د لوی افغانستان په نه جوړېدو دواړه متفق وو یوه هم نه غوښتل چي لوی افغانستان جوړ سي. د نېشنل عوامي پارټی په وخت کي دپښتنو دوه مشران وو،دشمالي پښتونخوا نه باچاخان وو اود جنوبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتونخوا نه عبدالصمدخان اچکزی وو. باچاخان د ملک نه بهر وو نو پکار خو داوه چي عبدالصمدخان اچکزی مشر سوی وای خو هسي ونسول او ولی خان مشر سو. په کال ۱۹۷۱ کي هرکله چي په مشرقي پاکستان کي بنګاليانو بغاوت شروع کړ نو دهغه ځای څخه په هغه وخت کي دنېشنل عوامي پارټی نه چي کوم دهغه صدر وو عبدالحمید باشاني،نو هغه راغلي او ولي خان ته یې وویل چي موږ د آزادۍ جنګ شروع کوو تاسي هم د آزادۍ جنګ شروع کړی نو تاسي به هم ازاد سی او موږ به هم ازاد سو نو ولی خان ورته وایي چي دڅه ازادي؟ زما نه پښتونستان پکاردی نه مي ازادي پکار ده،زما پاکستان خوښ دی او بیا پرځای ددې چي دپښتنو تحریک یې شروع کړې وای نو هغه یحیی خان ته دعبدالحمید باشاني په سر چغلي وکړل چي هغه لګیا دي وطن ورانوي نو بندوبست یې وکړه. په کال ۱۹۷۱ کي ولی خان یو لیک داجمل خټک په لاس جیسیده ته واستوی چي یاره اوس زموږ په ملک باندي ډېر سخت وخت دي نو موږ ته پکار دي چي موږ دپاکستان مرسته وکړو او زموږ

چي کوم دقوم پرستی تحریکونه دي دا لږ مدغم شریک کړونو اجمل خټک وایي چي هرکله ما جی ام سید ته دا مکتوب ورکړ نو هغه وکتي او هغه دقهر نه سور سو،وای چي ولی خان په دې باغ کي بوس دي بوس،هغه وطن ازادول نه غواړي که نه نو ددې موقع لپاره خلک په سوونه کلونه انتظار کوي چي دا برابره سي دهغې نه فایده واخلي او خپل ملکونه ازاد کړي.

بیا په کال ۹۱۷۱ کي دقبایلو یوه جرګه کابل ته راغله چي په هغه وخت کي باچاخان په کابل کي وو نو باچاخان ته یې وویل چي ګوره مشرقي پاکستان کي بنګالیان راپاڅېدلي دي،هغوی بغاوت کړي دي،په مشرقي پاکستان کي پاکستان هندوستان سره جنګي محاذ کولاو (خلاص) کړې دي او مغربي پاکستان کي هم جنګي محاذ کولا دی او زموږ ډیورنډ بلکل خالي پروت دي نو موږ ته وسله راکړی چي موږ پر دې خپلې ځمکي ورسو او خپلې ځمکي ازادي کړو خو په دغه دوران کي باچاخان هغوی ته وایي چې خبردار!! پاکستان په مغربي محاذ هیڅ قسم مسله جوړه نکړئ،بیا هغوی ولاړل ظاهرشاه ته او هغه هم همدغه جواب ورکړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو وطنوالو پاکستان دوه ټوټې سو دافغانستان ددولت او د کوزي پښتونخوا د تش په نامه قام پرسته مشرانو له لاسه د ډیورنډ نه تر اباسین پوري پښتانه بیا دغلامی په ځنځیرونو کي ښکېل پاته سول،دپاکستان د ټوټه کېدو نه پس په صوبه سرحد او بلوچستان کې نېشنل عوامي پارټۍ ته حکومت ملاو سو. د ولی خان نه تپوس وسو چي دخپلي صوبې ژبه پښتو کوې که اردو؟ نو ولی خان وويل چي اردو. خو دلته بل سوال پيداکېږي چي باچاخان وايي چي دکوم قوم نه خپله ژبه،کلتور،تاريخ هېر سي،نو هغه قومونه ددنيا دسطحي نه ورک شي، خو باچاخان د ولی خان په دې فيصلې باندي مجربانه خاموشي اختيار کړې وه.چي کله پښتنو دصوبې ژبه اردو وګرځول نو دکوزي پښتونخوا ډېر اديبان،شاعران دجرګې په شکل ارباب سکندر ته ولاړل ځکه هغه په هغه وخت کي دصوبې ګورنر وو او ورته يې وويل چي د صوبې ژبه پښتو کړئ،نو هغه ورته وويل چي پښتو ژبه دا صلاحيت نلري چي دادي تعليمي ژبه سي نو هغوی ورته د سوات او افغانستان مثالونه ورکړل چي هلته خو ددې اهميت سته،دا ژبه ددولت ژبه ده،په دې باندي تعليمونه هم کېږي خو ارباب سکندر ددوی يوې خبري منلو ته هم تيار نه وو. بيا يوه ورځ سليم راز او قلندر مومند دعبدالاکبرخان اکبر کورته ملاقات ته ولاړل نو سليم راز وايي چي موږ د روټۍ په غاړه ناست وو،او ارباب سکندر دا خبره عبدالاکبرخان اکبر ته وکړل وای هغه په سلګيو په ژړا سو چي موږ دا دومره قربانۍ ددې لپاره ورکړې وې چي اوس زموږ حکومت راغلي نو دوی زموږ خپلي ژبې قبلولو ته هم تيار نه دي.

ګرانو وطنوالو دلاهور يوه رساله ده"زنده ګی" دهغې ايډيټر دی،الطاف حسين قريشي،نو هغه دولی خان نه انترويو اخيستل،نو ولی خان ورته وايي چي زما نن او سبا صرف او

صرف دپاکستان سره دی،ما کله هم دپښتونستان ذکر نه دي کړي او زما په ذهن کي پاکستان دی او صرف پاکستان! بيا قريشي ترې تپوس وکړ چي دافغانستان دپاکستان په ځمکه څه دعوه شته؟نو ولی خان ورته وايي چي افغانستان چيرته هم نه دي ويلي چي دپاکستان په ځمکه زموږ دعوه شته،صرف دا وايي چي په پاکستان کي دي دپښتنو سره دجمهوريت مطابق ښه سلوک وکړای شي. بيا يو بله رساله ده چي ټان دهغې نوم وو دهغې او دهغې داسيسټينټ (مرستيال) ايډيټر نوم وو اختر کشمېری. نو هغه د ولی خان سره انترويو کوي،د ولی خان نه تپوس کوي چي له پاکستان او پنجاب متعلق(اړوند) دي څه خيال دی؟ نو هغه ورته څه وايي؟ ولی خان وايي چي پاکستان زموږ لپاره يو ناقابل وحدت دي، موږ پنجابيانو ته وايو چي تاسو زموږ مشر ورور يي خو هغوی وايي نه يې،تاسو زما دښمن يې،زه ورته وايم چي موږ مسلمانان يو خو دوی راته وايي چي نه،تاسو د هندو کانګرس اجنټان يې،موږ ورته وايو چي دا زموږ وطن دي او موږ ستاسو ورونه يو خو دوی وايي چي نه،تاسو دافغانستان ملګري يي او دوی موږ ته غداران وايي،خو که موږ په کانو هم وولي خو ددې هرڅه باوجود زموږ دپاکستان سره دومره مينه ده چي دا ټولي خبري موږ دخپل وطن لپاره پرځان برداشت کوو،پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ دي او موږ دپاکستان يو،دپاکستان دسالميت او حفاظت لپاره موږ هر قسم قرباني ته تيار يو او ددې عظيم ملک لپاره موږ هر يو نيغ پر خپل سينه زغملای سو او برداشت کولای سو. نو زه اوس دلته يو تپوس کول غواړم او يوه پوښتنه کول غواړم،چې پښتنو!غيرت يو شي کنه؟! دا خو هم يو شي چي هغوی دي نه پرېږدي چي ورک شه زما نه او بيا هم وايي چي پاکستان زما وطن دی!! هغه پښتو او غيرت چيرته لاړ!؟! اې غلامانو! ګرانو وطنوالو دپښتونستان په باره کي ترې بيا سوال وسو،نو ولی خان ورته وايي چي د پاکستان دجوړېدو نه پس که چاه دا خبره ثابته کړه چي ما دپښتونستان نوم هم اخيستی دی! نو ما دي په ګوليو ولي،دپاکستان دجوړېدو نه پس موږ خو افغانستان سره شاملېدل نه غوښتل او هندوستان خو هلته پاته سو نو موږ به خامخا دپاکستان سره شاملېدلو،ددې نه علاوه دپښتونستان خبره خو اول مسلم ليګ زموږ خلاف استعمال کړه او بيا د افغانسان شرارت وو چي هغوی سره دخپل ولس ددوکه کولو لپاره بل څه نه وو نو دپښتونستان خبره يې اوچته کړه،موږ پښتونستان موښتونستان نه منو موږ صرف پاکستان پېژنو،ددې علاوه خلک دطاقتور دښمن په تلاش کي وي ځوک دا هم نه غواړي چي دکمزورو خلکو سره ولاړ سي،دپاکستان په مقابله کي افغانستان ډېر زيات کمزوری دی نو موږ دومره بې وقوف نه يو چي دپاکستان نه جدا شو او د افغانستان سره يوځای سو او نه دومره بې وقوف يو چي دپاکستان نه جدا سو او ځانته ديو جلا رياست د جوړولو خوبونه ووينوواو که موږ پاکستان نه غوښتی نو چي کله زموږ په صوبه کي ماته اختيار راکړل سو چي خپلي صوبې ژبه پښتو کوي که اردو؟ نو ما وويل چي نه،اردو! ځکه اردو زموږ د وطن پاکستان ژبه ده. ګرانو وطنوالو بيا ورته ولی خان وايي چي موږ د

پاکستان سره محبت دی "او دا ډېره اهمه خبره ده" دپاکستان دسرحداتو سره مو محبت دی،" يعني ډيورنډ سره لا ددوی محبت دی " ددوی داساسي نظريې سره زموږ محبت دی.


بيا ترې اختر کشميری تپوس کوي چي دافغانستان نه دا کوم مهاجر راغلي دي،ددې متعلق دي څه خيال دی؟ نو دی ورته وايي:مهاجر دي،راغلي دي،دوی صوبه سرحد کي ژوند کوي او دپاکستان مېلمانه دي ځکه صوبه سرحد هم دپاکستان حصه ده،خو چي دوی دلته اوسي نو پکار ده چي ددوی حيثيت دي دمهاجرينو سي؛خو که دوی هم چيرته پاکستان ته څه مسله جوړه کړه! نو ولی خان به اولنی کس وي چي دپاکستان دپاره به ددوی مقابلې ته سينه وهي او ددوی مقابلې ته به ولاړ وي دا زما د پاکستان دولس سره وعده ده.

ګرانو وطنوالو!بيا ترې دا تپوس کوي چي ستاسو دپاکستان دفوج متعلق څه خيال دی؟نو ولی خان ورته وايي چي دپاکستان فوج زموږ عزت دی،دا زموږ ناموس دی،دوی زموږ ورونه بهايي ګان دي،زموږ دوطن حفاظت کوي. "نو دا دده هغه ورونه بهايي ګان دي چي موږ ته يې په بابړه کي کورونو ته ۶۰۰ شپږ سوه جنازې راولېږلې،دا دده هغه ورونه بهايګان دي چي ۳ درې ميليونه بنګاليان يې په خپلو وينو کي ولمبول دا دده هغه بايګان ورونه دي چي ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه دبنګال ښځي يې وشرمولې او دا دده هغه ورونه او بهايي ګان دي چي زموږ ۸۰ اتيا زره قبايل ورونه يې په وينو کي ولمبول او دا دده هغه ورونه دي هغه بهايګان دي چي زموږ دافغانستان ددوه ميلونه خلکو جنازې زموږ کورونو ته راوړې"

ګرانو وطنوالو يحيی خان داقتدار نه پس د ولی خان او باچاخان صفتونه کول او ضياءالحق چي کله اقتدار ته راغلې نو دولی خان په صفتونو نه مړېدی او ولی خان په وازکومي دضياءالحق د مارشالا مرسته کوله نو ضياءالحق ولي خان ته ويلي وو چي دپاکستان وزير اعظم سه. اعجازالحق دضياءالحق زوی دی نو هغه وايي يوه ورځ زه دپلار سره ناست وم او ولی خان راغلی او چي څنګه راننوتی نو زما د پلار پر پښو باندي پرېوتی "دا ددې خلکو غيرت،دا ددې خلکو پت او دا ددې خلکو پښتونولي ده " . ښه نو ګرانو هيوادوالو باچاخان لوی افغانستان نه غواړي،ولی خان،اسفنديارخان او ايمل ولی دپاکستان لپاره په افغانستان پسي ټوپک رااخلي،محمودخان اچکزي ته دپاکستان له غمه خوب نه ورځي،چي د نوازشريف سره په مری کي ولاړ وو نو وايي موږ به تر قيامته دپاکستان سره يو. په لندن کي بي بی سی ته انټرويو ورکول نو ورته وايي چي موږ به ګيا خورو،واښه به خورو،موږ وايو چي دپاکستان د آی ايس آی اوزموږ فوج دي ددنيا ترټولو طاقتوره فوج جوړ سي. نو اوس ګرانو وطنوالو تاسو په خپله سوچ وکړئ چي لوی افغانستان دچاه دلاسه جوړ نسو؟هم په لر او هم په بر کي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## افغان

## پښتون،پختون،پشتون

ځنګه چې دا موضوع يو تاريخي مسله ده نوپکار ده چې دې ته موږ د تاريخ په رڼا کې وګورو.

د پښتون قام د اصل،نسب مسئله نه خو څه مذهبي مسئله ده چې په مذهبي نقطه ی نظر سره يې څېړنه وسي او نه داڅه سياسي مسئله ده چې خامخا ددې د سياست او يوې خاصي پاليسی په نقطه نګاه سره موږ.معلوم کړای سي . ټول پښتون قام دخدای ج په فضل مسلمان دي او دا دپښتون قام يو امتيازي صفت دي چې پښتون به هرو مرو مسلمان وي.

د پښتنو په باره کې چې څوک وايي دوی بني اسرا ئيل دي او څوک وايي چې دوی ارين دي نو که دوی څوک هم دي نو ايا دوی د يهودو او يا د ارياو قومونو سره په دولت،علميت او تجارت کې مقابله کولای سي؟ بلکل يې نسي کولای،ځکه چې زما نيم وجود د ډيورنده څخه تر آباسينه هاخوا پروت دي او نيم وجود مې په ازاد افغانستان کې پروت دي نوپه يو لاس او يوه پښه زه د ترقی په لاره له دنيا سره دسيال په ځای نسم دربېدای ځکه چې دچا يو لاس او پښه نه وي نو هغه ته معزوره ويلای سو نو د لر او بر دې جدايي افغانستان معزور کړې او دا معزوريت هغه وخت ختمېدای سي چې لر او بر يوځای سي او لوی افغانستان جوړ سي .

نو ګرانو وطنوالو اول خوراځئ چې دا خپل درې وړې پښتون قام رايوځای کړو او خپل وطن د ترقی په لار روان کړو نو بيا به په موږ پسې خلک منډې وهي چې پشتانه زموږ قوم دي خو موږ به ورته وايو چې نه پښتون د پښتون قام دپښتون قوم دي.

ګرانو وطنوالو دپښتون قام داصل،نسل مسئله ښځي يو تاريخي او تحقيقي مسله ده نو پکار ده چې په دې مسئله دتاريخ او تحقيق په رڼا کې کار وسي . پښتون قام يو غيور قام دي دپښتون قام هرفرد د غير پښتون په مقابله کې ځان په فرد ګڼي ، دپښتون معنا ده شريف،اصيل او د ښواخلاقو خاوند.

پښتون يو شجاع قوم دي اود مذهب سره ډېره زياته مينه لري ، پښتون قام د ۱۴۰۰ کاله قبل المسيح نه اګاهو داباسين نه تر امو پوري دپښتون په نامه او په خپله ځمکه موجود دي . د ويدي او اوستای زمانې نه پس د يوناني مؤرخ هيرودودتس په ليکنو کې موږ په واضح ډول لېدلای سو دپښتون ذکر لېدلای سو ددې مؤرخ په ليکنو د پښتون نوم او ددوی دوطن نامه څوځو ځلي راغلې ده ،دهيرودودتس نه ديونان يو بل مؤرخ دي چې دهغه نوم دې بطلېموس

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هم دپښتنو د وطن ذکر کړي دي ،نوخبره داده چې پښتون هغه قام دي چې په اول ځل یې ذکر په ریګوېدا کې د پکتا او پکت په نامه باندې سوې دي بیا وروسته دا قام دباختر داستوګني په وجه په بخدي مشهور سوي دي اوپه اوستا کې د بختی په نامه باندې ذکر سوي دي اود بلخ ښار هم ددوی په نامه شهرت موندلی دي .

ګرانو وطنوالو،وروسته بیا د هخامنشي دور د ۵۰۰سوه قبل المسیح په شاوخوا کې دیوناني مؤرخینو لخوا دا خلک د پکتویس،پکتوان او ددوی ملک،ددوی هېواد د پکتیکا،پکتیکې او پکتین په نامه باندي یاد سوي دي دغه ټول الفاظ د اوسني لفظونو پښتون اوپښتونخوا سره مطابقت لري،پدې ډول یو بل تاریخپوه پروفېسور لاسن د هیرودېدتس پکتویس او د اوسنی زمانی د لفظ پښتون نوم ترمنځ مطابقت تسلیم کړو او وروسته بیا یوبل تاریخپوه ټرومپ او ګرېورسن دغه مطابقت ومني نودغسې دې نظریې ته دحقیقت جامه وروا غوسته .

ګرانو وطنوالو اوس چې موږ افغانستان کې کوم خلک اوسو ټول افغان ورونه نودافغان نامه دپښتون قام تاریخي او قامي نامه نده بلکې دا نوم ددې خلکو لپاره داسلامي دورې په اغاز یا شروع کې اول عربو او ورپسې ایراني مؤرخینو استعمال کړې ده او ددې لفظ نه دهغوی مراد یو خاصه قبیله وه چې هغې ته پښتانه ویلای سي وروسته هندیانو او ایرانیانو لخوا دا لفظ په عمومي ډول دټولو پښتنو لپاره استعمال سو او هغه ټول خلک دافغان په نامه مشهور سول کوم چې دپښتنو په علاقه یا سیمه کې استوګن وو خو که دهغوی ژبه پښتو وه اوکه بله او یا نسلاً هغوی پښتانه وو او که غیر پښتانه خوهغوی ټول د یو افغان په نوم باندې مشهور سول ،څنګه چې افغان د پښتنو یو ملي نوم دي نه چې قامي او تاریخي ،نو پدې بنا غواړم په تاریخ کې دافغان په نوم به لږه رڼا واچوو.

ګرانو وطنوالو ترکومه حده چې معلومه سوې ده دافغان کلمه دلفظ اوغان نه وتلې دي چې په اسلامي دوره کې دمؤرخینو لخوا د پښتنو لپاره استعمال سویدي ، چوناتي ابونصرمحمد عبدالجبار العدبي په تاریخ یمیني کې په واضح ډول دا لیکي چې دافغان لفظ د اوغان نه وتلې دي په اسلامي مؤرخینو کې ابوریحان البېروني ،فردوسي،طوسي،ابوالفضل بیهقي،منهاج السراج او داسي نورو مؤرخینو دافغان نامه بیا بیا دپښتنو لپاره یاده کړې ده سره له دې چې په اتمه هجري سدۍ کې دامؤرخین هم وو چې همهغه قدیمي لفظ افغان یې استعمال کړې دي لکه په ظفرنامه کې ملفوظات تېموري او مطلع السعدین کې .

دمسټر بېلو په خیال کې دافغان لفظ اوغان یو زوړ او پخوانی نوم دي او دا لفظ وروسته افغان شویدي .

د لفظ افغان په باب کې دقاموس عالم ښاغلي مصنف شمس الدین ثاني داسي وایي افغان یو ډېر پخوانی قام دي اوپه پښتو ژبه خبري کوي اودا نوم نوی نوم ندی بلکې ډېر پخوانی نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي او دمؤرخينو پلار هېرودېدتس چې په کومه موقعه دهندوکش داستوګنوذکر کړې دي نودافغان نوم پکې ذکر شويدي.

ګرانو وطنوالو په اسلامي دوره کې دافغان نوم په اول وارپه حدودالعالم من المشرق المغرب په ۹۲۸ عيسوي کې دپېښور په بيان کې داسي ليکل سوي دي : پيښور يوداسي ځای دي چې دهغې ځای باچا ځان دمسلمانانو په شان ښکاره کوي او له دېرشو څخه زياتي ښځي لري چې په هغوي کې څه مسلماناني دي،څه افغاناني دي او څه پکښې هندواني دي پدې عبارت کې دمسلمانانو او هندوانو نه بېل ځانته دافغانانو ذکر کول ددې قياس مرسته کوي چې ددې علاقې پښتنو لا ترڅلرمي سدئ هجري تراخره هم په عمومي ډول اسلام نه وو قبول کړې ددې نه پس تر اتمې سدئ هجری پوري اسلامي مؤرخينو لکه ابن بطوطه او په دې پسې فرشتې او نورو دافغان نامه بيا بيا استعمال کړې ده .

په ارمني ژبه کې د اوغان يا اغوان لفظ دهغه خلکو لپاره استعمال سوي دي چې په غرونو کې ژوند تېروي .

ګرانو وطنوالو هيرودودتس چې کله د داريوش د صوبو ذکر کوي په ديارلسمه صوبه د پکتويس يعني پښتنواو ارمنيانو ذکر هم کوي نوله دې څخه دا معلومېږي چې پښتانه او ارمنيان په يو صوبه کې اوسېدل او په خپلو کې ګاونديان وو .

په هرحال دافغانانو نامه به ورځ په ورځ خپرېدله او نفوذ يې موندې .څنګه چې دانامه دومره عامه سوه چې البېروني هم چې له اباسين نه په قبله تر کابل پوري په ټوله غره يي علاقه کې دپښتنو قبايلو ذکر د افغان په نامه باندې کړي دي اودا خلک يې د سرکښ او سرتېرو په لفظونو باندې يادکړي دي . دافغان لفظ دشاه عباس اعظم صفوي په زمانه کې د ابدالي قبيلې لپاره په عموميت سره ياد سوي دي وروسته پدې نامه غلجي قبايل ياد سويدي بيا په يوولسمه،دوولسمه سده هجري کي دافغانستان دټولو قبايلو لپاره ددې لفظ ويل شروع سول دالفظ افغاني،هندي او ايراني ليکوالو په خپلو اثارو او تأليفاتو کې په وسيعه معنا او کثرت سره ياد کړي دي. ابوالفضل او خان جهان لودي دافغان دټولو پښتنو قبايلو لپاره استعمال کړي دي .

ګرانو وطنوالو د اوومي هجري سده په ابتدا کې يعني په کال ۶۱۸ مه هجري کې شايد په اول وار دافغانستان نامه دپښتنو د مسکن په ډول په تاريخ هرات کې سيسي هروي ذکر کړې ده ددې نه پس عبدالرزاق په مطلع السعدين کې هم دافغانستان ذکر کړي دي اود افغانستان نه يې مراد دپښتنو مسکن دي پدې ډول بابر هم په کال ۱۵۰۴ کې د کابل دفتح کولو نه پس دکابل دحالاتو په ترڅ کې د پښتنو ژبه يې دافغاني په نامه او دپښتنو علاقه يې دافغانستان په نامه ياده کړې ده ددې علاوه بابر په خپلو مهماتو کې ټول پښتانه قبايل د افغان په نامه ياد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړيدي پدې ترتيب د زمانې په تېرېدو سره دافغان نامه دقبيلې يا قبيلو نه تېره سوه او په لسمه او يوولسمه سده هجرى کې ددې هېواد دټولو استوګنو داصلي نوم پښتون پر ځاى يو ملي نوم وګرځېدي او هم پدې ډول دوخت په تېرېدو سره په ديارلسمه سده هجرى کې دافغانستان نامه يوازي دپښتنو دمسکن نامه نه بلکي د ټول هېواد نامه سوه اود پخواني زوړ نوم خراسان ځاى يې ونيوې او دبهرنيو ملکونو سره په خط او کتابت کې ددې هېواد نامه دخراسان پر ځاى افغانستان ليکل شروع سوه .

څرنګه چې لارډ اکلنډ په خپل يو ځوابي خط کې چې شاشجاع ته يې په کال ۱۸۳۸ م کې ليکلى وو دافغانستان لس دمملکت په ډول دپخواني خراسان پرځاى دوه ځايه ليکل سويدي . همداراز په ديارلسمه سده هجري کې دافغانستان دټولو قبايلو لپاره هغه که پښتانه وو که غير پښتانه دافغان نوم ويل شروع سو او ددوى داوسېدلو علاقه دافغانستان په نامه مشهوره سوه اوددې علاقې پخوانى نوم خراسان داستعمال نه مکمل ووتي.

ګرانو وطنوالو افغان دپښتنو تاريخي او قامي نوم ندي بلکې ملي نوم يې دي بل طرف ته اوس ځيني کسان دخراسان خراسان خبره کوي زه هغوى ته دا وايم چې موږ به بيا تاسي ديارلسمې هجرې ته بوزې نوګوري ياد ساتې چې بيا به ستاسو هيڅ پته هم نه وي چې تاسي څوک واست اود کوم ځاى نه راغلي ياست بيا درپدر خاوري په سر ګرځې اود سر دپټولو ځاى به هم نه وي زه داباسين نه ترامو پوري د ۵۰۰۰ کالو راهيسي په خپله ځمکه پروت يم او نور قومونه چې هغه په دې ځمکه زموږ سره مېشته دي که هغه پښتانه دي او که غير پښتانه دي زه خپل ورونه،خپل خويندي او خپل بچي ګڼم خود خراسان په باره کي داخبره دولس خبره نده بلکي دا ديو څو جاسوسانو خبرې دي چې دبل چاه په اجنډا کارکوي او ددوښمن پروژه مخ په وړاندي وړي ږ.

عام ولس موږ ټول سره ورونه او خويندي يو او په شريکه سره د وروروليی ژوند تېروو بلکې زه خو يوڅو تاريخي حوالې ورکول غواړم هرکله چې دايران باچا نادرشاه دخپل فوج سردارانو مړ کړ نو احمدشاه بابا پښتنو سردارانو ته وويل چې ددې سردارانو نه د نادرشاه بدل اخيستل غواړي نو ټول پښتانه ورسره ودرېدل او دلته ازبک هم داحمدشاه بابا په مرسته کي ودرېدل نو بيا چې کله احمدشاه بابا باچا سو نوهغه دپښتنو ټولي علاقې يودبل سره ګنډل يا يوځاى کول غوښتل نو اول پر غزني وروخوت دهغه ځاى ګورنر لږڅه مقابله وکړه خوبيا يې لاسونه اوچت کړل تسليم سو نو بيا دکابل ګورنر ته احمدشاه بابا خبر ورکړ چې کابل حواله يا تسليم کړه که نه نو جنګ ته تيار شه نود کابل ګورنر ناصر خان وو چې د مغلو په لاس ناست وو نو ناصر وويل چې جنګ کوم کله چې د جنګ اعلان وسو نود ناصر خان په پوځ کي هزاره او ازبک هم وو نو هغوى د ناصرخان نه تپوس يا پوښتنه وکړه چې له چاه سره جنګ دي نو هغه وويل چې احمدشاه راروان دي نو دوى چې دا اوس زموږ ملي مسئله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده او مور. داحمدشاه سره جنګ کول نه غواړو اود ناصر له فوج نه جدا سول بیا چې کله دانګریزانو او افغانانو داول جنګ نه پس دوست محمد خان بخارا ته لاړ نوبیا چې کله واپس بیرته راتلې نو ازبکو ته ورغلې او هغوی ورسره راپاڅېدل او په سمنګان کې یې انګرېزانو ته ماته ورکړه په دغه وخت کس چې د تاجکو مشر و او نوم یې خواجه وو هغه هم دانګرېزانو خلاف راپاڅېدي نو په دغه وخت کې نه څوک پښتون و،نه څوک تاجک و،نه څوک ازبک و،نه څوک هزاره و بلکې ټول یو افغان وو خو اخر اوس دخراسان خبره ولې را اوچته سوه ځکه چې په کال ۲۰۱۹ م کې دلوی افغانستان لمر پر راختو دي او دپاکستان او ایران سره دپښتنو دستر عظیم طاقت دمینځته راتلو وېره پېداسوې ده چې بیا به افغانستان کله د لاهور او کله دمشهد دروازې به ډبوي او داخلک له طالبانو سره دسولي خبري په دې وجه ردوي چې ددې قسم خلکو دوکانداري ختمیږي او مور. د ګام ملګري له طالبانو سره دسولي مکمله مرسته کوو ځکه هغه هم ددې وطن بچي دي او رادي سي اودخپل ګران وطن په جوړولو کې دي خپل کردار اداکړي .

نو زما ګرانو ورونو،خویندو او بچو بېدار سئ او دا قسم خلک ولس ته افشاه کړې .

پښتون قوم دا نوم ډېر پخوانی نوم دي دانوم د نن نه ۲۵۰۰ کاله اګاهو هیرودېتس او نورو ایراني مؤرخینو په خپلو اثارو کې دخپلي لهجې مطابق دپکتویس،پکتوان،او پکتین په نومونو یاد کړي دي او ددوی داستوګنې ځای د پکتیکا،پکتیکې،او د پکتیا په الفاظو یاد کړي دي چې ددې الفاظو مطابقت دپښتنو او پختیخا یا پښتونخوا سره منل سوي حقیقت دي خو اوس دلته یو دوه نومونه نور راغلل قوم او ملت نوراځئ چې په دې لږ بحث وکړو

**قام یا قوم:** د وګړو هغه ډلو ته وايي چې په هغوي کې څه داسي خصلتونه،خویونه او خصوصیات موجود وي چې هغه دهغوی په مشرانو او اولاد کې هم دمېراث په شکل منتقل سوي وي .

**ملت:** اود ملت اطلاق د وګړو په داسي ډلو کیږي چې هغوی اکثر دمختلفو قامونو وي په یوه هېواد کې اود یو نظام او ضابطې لاندې ژوند کوي او په فایده او نقصان کې سره شریک وي .

خو اوس دلته دپښتون په باره کې درې نومونه مینځته راغلي دي چې یو پښتون چې په ښ لیکل کیږي او بل پختون چې په په خ لیکل کیږي او بل پشتون چې په ش لیکل کیږي خو په دې باندې دبحث نه مخکې زه دلته دتاریخ په ابزارو خبري کول غواړم :هغه زمانه چې کومه د رسم الخط دابجاد نه اګاهو په انسان تېره سوې ده نو هغه د عصر قبل التاریخ په نامه یادیږي اود رسم الخط دایجاد نه را په ایسته یا وروسته زمانه دې ته تاریخي عصر ویلای سي دقبل التاریخ او تاریخي دور دبیلتون کرښه ۳۵۰۰ کاله قبل المسید ګڼلای سي خو قبل التاریخ دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

عموماً په دوه حصو کې وېشلای سو يعنې احدي حجر يا ډبري زمانه او احدي برنجي يا برونز زمانه . داحدي حاجري اندازه پنځه لکه کاله ده دحجر په زمانه کې به خلکو الات او ابزار د کاڼي يا ډبري نه جوړول په هغې به يې کار هم کوې او هر قسم فايدې به يې هم ترې اخيستې نوپدې وجه دېته د حجر يا دکاڼي زمانه هم ويلای سو ددې نه پس يا وروسته د انسان په ژوند کې بله انقلابي واقعه وسول چې په هغه کې دوی معدنيات يا کانونه وموندل چې په هغه کې دوی تنبه هم وموندل نوبيادوی د تنبې نه الات او ابزار جوړول شروع کړل نوله دې امله دې زمانې برنجي يا دبرونزو زمانه ويلای سو .

ددې نه وروسته چې بني آدم نوره ترقي وکړه نو دوی اوسپنه هم وپېژندل د اوسپنې دريافت يا پيداکېدل دانسان په ژوند کې په انقلابي ډول اهميت وموندې ددې زمانې له اغز يا شروع سره دانساني تهذيب هغه دور شروع سو چې هغې ته تر ننه پوري موږ دخپل مفهوم مطابق تهذيب وايو ددغه وخت نه لوی لوی ښارونه اباد سول ،حکومتونه قايم سول،قوانين تيار سول ،خلک په مختلفو تپو کې ووېشل سول غرض ديو منظم او مصروف ژوند اغازوسو يا شروع وسول .

گرانو وطنوالو کله چې انسان دتهذيب او تمدن په دايره کې قدم کېښود او دترقی په لاره روان سو نو تګ راتګ ،حمل و نقل،تجارتي او اقتصادي ضروررياتو مختلف قامونه په خپل منځ کې په ګډون مجبور کړل او دغسې دمختلفو قامونو په يو بل د غلبی جذبات راوپارېدل او په يو بل د حملو سلسله راشروع سول نو ددې جنګونو په نتيجه کې خامخا ددوی د نسلونو هم د يو بل سره مخلوط وسو ددې اصولو په رڼا کې ،څنګه چې د پښتنو علاقه هم د تاريخ په مختلفو دورونو کې د مختلفو حمله ورو قامونو دجګړو ميدان پاته سوې دي او دمختلفو قامونو سره د پښتنو يو ژور تعلق هم پاته سوې دي نو پدې وجه به د پښتنو په ژوند کړو وړو او د ژبې په لهجه خامخا څه ناڅه اثر پاته سوې وي اوس دلته نور تاريخي روايتونه هم دي چې کوم خلک په يو ځای حمله وکړي او هغه ځای فتحه کړي او يا هغه ځای ته څه مهاجر هجرت وکړي نوکه ددوی تعداد د ملکي خلکو نه زيات وي نو بيا هغه ملکي خلک د فاتحو قومونو يا دمهاجرو ژبه او کلتور خپل کړي خو که ددوی تعداد د ملکي خلکو نه کم وي نو بيا دغه فاتح قومونه يا مهاجر د ملکي خلکو ژبه او کلتور خپلوي او که چېري داسي ونشي نو دابه يو غير فطري اوغيرطبيعي عمل وي لکه مثال به د پاکستان واخلو چې پاکستان ته په کال ۱۹۴۷ م کې د درو نه تر پنځو فيصده مهاجر دهندوستان نه پاکستان ته راوتښتېدل او دخپل او نېکه وطن هندوستان سره يې غداري وکړه او تراوسه پوري په پاکستان کې په کراچی او حيدراباد کې د مهاجرو په نومونو يادېږي،نوپکار داوه چې دوی د ملکي خلکو ژبه او کلتور خپل کړې وای خو دوی خپله ژبه اردو او کلتور د پاکستان په ټولو قومونو باندې وروتپې نو نتيجه يې داسوه چې پاکستان په ځلرويشت ۲۴ کاله کې تجزيه سو او د نيم نه زيات پاکستان نه بنګله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېش جوړ سو او اوس پسې پښتنو او بلوچو بدې یا لستونې راکښلې یا رغړولې دي او په ۲۰۱۹ م کال کې به پاکستان د تاریخ حصه جوړه سي او د آمو نه تر آباسینه پوري پښتانه به د خپل پلار،نیکه وطن لوی افغانستان وارثان سي انشاءالله نو اوس به راسو خپلې موضوع ته چې پښتون په درې طریقو لیکلای سو نو اوس پشتون چې په ش لیکل سوې دې دا نوم د ناروې د (اوسلو)پوهنتون یو محقق ډاکټر مارټین سیټن ویلې دې او د کیمبریج پوهنتون ډاکټر ښیلي هم ددې خیال مرسته کوي خو بیا ښاغلی کېرو ددوی ددې خبرې سره اتفاق نلري بیا چې کله شلمه سده عیسوي کې په هندوستان کې د ازادۍ تحریکونه شروع سول نو دهغه ځای خلکو به د پښتون لپاره به د خ لفظ استعمالوه ځکه چې په اردو ژبه کې د ښ لفظ نسته نو دوی چې به کله پښتون لیکه نو د خ په لفظ (پختون) به یې لیکه خو بهادرشاه ظفر کاکاخېل د خپلو ۳۵ کالو د تحقیق او تاریخي حوالو پر بنیاد دا خبره کوي: چې که پښتون که په ش لیکل سوې دي یا په خ لیکل سوې دې دا هم هغه نومونه دي چې کوم د پښتون لپاره استعمالیږي پدې کې هیڅ فرق نسته خو دپښتون اصلي همهغه دې کوم چې په ښ سره لیکل سوې دي .

تل دې وي زموږ د پلار او نیکه وطن

له آمو نه تر آباسینه

**لوی افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتنو او بلوڅو ورونو ورورولي







ګرانو وطنوالو څومره چې د پښتنو او بلوچو خبره ده چې پښتانه یو لرغونی تاریخ لري نو داسي زموږ بلوچان ورونه هم د لرغوني تاریخ مالکان دي ،خو که موږ د لرعوني تاریخ په اوږدو کې وګورو نو پښتانه او بلوچان همیشه په زرګونه کلونه د یو بل په څنګ کې د ورونو په شان سره پاته سوي دي. دوی ښې او بدي ورځې په شریکه سره تیري کړې دي او همیشه یې یو د بل ملاتړ کړې دي زه به ډېر لیري نه ځم اود کال 1747 م نه به یې راونیسم چې کله د ایران پادشاه نادرشاه افشار مړ سو او د یوځ هغه برخه چې په پښتنو مشتمله وه نو د هغوی لس سرداران وو نو هغوی فیصله وکړه چې موږ ځو کندهار ته او موږ ته پکار ده چې هلته موږ ځانته د خپل هیواد بنیاد کېږدو زه په هغه کې په تفصیل سره نه ځم خو چې د شیرسرخ بابا په مزار کې د پښتنو جرګه کېدله نو په هغې کې د پښتنو د مشرانو علاوه یوه بله قبیله هم وه چې د هغې نړم بلوچ قبیله او په هغه وخت کې د هغوی مشر نصیرخان نوري وو او هغه هم په دې جرګه کې شامل وو او چې کله صابرشاه د احمدشاه بابا نوم د افغانستان د باچاهۍ لپاره وړاندي کړ نو نصیرخان نوري د هغه ښه په کلکه ملاتړ وکړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library




ګرانو وطنوالو چې څنګه موږ پښتانه دا دعوه کوو چې موږ د افغانستان بنیاد ایښي دي نو په هغه دعوه کې زموږ سره بلوچ ورونه هم شامل دي بیا د احمدشاه بابا او نصیر خان نوري په منځ کې یوه معاهده وسوه چې که چاه په کلات حمله وکړه نو افغانستان به د بلوچانو ورونو کومک کوي اود هغوی دفاع به کوي بیا داسي وخت هم راغلې چي د پښتو او بلوچو تر منځ څه غلط فهمی راغلې نو بیا احمدشاه بابا لاړ او د هغوی په منځ کې هغه غلط فهمی لیري شوې او بیا احمدشاه بابا د نصیر خان نوري وریره په نکاح کړه او چې کله به احمدشاه بابا په ډهلي،لاهور او مشهد حملې کولې نو نصیرخان نوري به احمدشه بابا ته بلوچ جنګیالي هم ورکول او هغوی به د خپلو پښتنو ورونو سره یوځای څنګ په څنګ به جنګېدل اود پاني پت جګړه د هغې یو ستر مثال دې نو په دې وجه هم که څوک که پښتانه او یا بلوچ دي یا سیاسي ګوندونه دي او هغوی د پښتنو اوبلوچو ترمنځ اختلافات پیداکوي او دنفاق اور ته لمن وهي نو هغه د پاکستان د فوج،استخباراتي ادارې ISI په اجنډا باندې کار کوي .

ګرانو وطنوالو بیا چې کله په کال 1839 م کې انګرېزانو پر افغانستان حمله کوله نو د محراب خان بلوچ چې هغه په هغه وخت کې د بلوچو مشر وو دهغه څخه انګرېزانو پر افغانستان د حملې په غرض لاره وغوښته خو محراب خان بلوچ چې رضا نشو نو بیا خو یې لار په زورزیاتي واخیسته خو چې کله دوی د بولان په دره تېرېدل نو بلوچو ورونو پر انګرېزانو حملې کولې خو چې کله انګرېزان کابل ته ورسېدل او د انګرېز څه فوج واپس بیرته هندوستان تېرېدل نو انګرېزانو دا ویل چې دا د محراب خان بلوچ په حمایه دا حملې پر موږ باندې سوې وې نو انګرېزانو په 13 Oct 1839 په بلوچستان حمله وکړه او محراب خان بلوچ یې مړ کړ او په هغې کې د بلوچ د خزانې هندو وزیر دیوان بوچامول او په سوونو نور کسان هم ووژل سول او یو کم عمره بلوچ شهنواز خان بلوچ یې د محراب خان پر ځای مشر کړې او یو انګرېزی افسر لیفټي نینټ لوډي یې ورسره پرېښودې .

(c) ketabton.com: The Digital Library




ګرانو وطنوالو د قلات د خان ښځه د سید جمال الدین افغان لمسۍ وه د خیربش مری او اکبر بګټي ښځې هم پښتنې وې ،نو د پښتنو او بلوچو تر منځ نه یوازې د وروروليۍ تاریخي ریښې دي بلکې زموږ او د بلوچو وینه شریکه ده بیا چې کله په 3 June 1947 کې د برتانیې په هندوستان کې وایسرای لارډ مونټ بټن اعلان وکړ چې انګرېزان په 30 June 1948 جون پورې به له هندوستان څخه ځي او دوه هیوادونه هندوستان او پاکستان به منځته راځي نو د کلات خان انګرېزانو ته د انګرېزانو او بلوچو په منځ کې چې کومې معاهدې سوي وې که هغه په 1838 م کال کې سوې وې او که هغه په 1804 م کال کې سوې وې او که هغه په 1876 م کال کې سوې وې هغه ټولې معاهدې یې راوویستلې چې په هغه کې د قلات آزاد حیثیت منل سوې وو ،بل د قلات د ریاست حیثیت د بریټانوي هند له نورو ریاستونو څخه بلکل مختلف او جدا وو نو بیا لارډ مونټ بیټن یو میټینګ (غونډه) راوغوښتله چې په هغه کې یو اړخ جناح او لیاقت احمد خان وو او بل اړخ ته د کلات خان او د هغه مشاور سلطان احمدخان وو او بل پکښې لارډمونټ بټن هم ناست وو په دې کې صرف په دوه خبرو باندې پرېکړه وسوه چې یوه پکښې دا وه چې که د کلات خان غواړي په خپله خوښه له پاکستان سره په خپل مرز یا سرحد یوځای کیدل غواړي نو صحیح ده یوځای دې شي او بله پرېکړه داده چې که بلوچان د پاکستان سره یوځای کېدل نه غواړي او بلوچان غواړي چې د افغانستان سره خپله هغه پخوانۍ معاهده جاري وساتي او د افغانستان سره شامليږي نودا به هم د کلات خپل اختیار وي خو د قلات خان دا خبره وکړه چې موږ نه د افغانستان سره یوځای کېږو او نه د پاکستان سره بلکې موږ ځانته خپل آزاد او خودمختار هیواد غواړو دا خبره د قلات خان په خپل کتاب مختصر تاریخ قوم بلوچ او قوانین بلوچ کې په صفحه نمبر 93 باندې لیکلې ده نو په 11 Aug 1947 م کې انګرېزانو د کلات اختیار د کلات خان ته حواله کړ یا وسپاره او د کلات خان سمدستي د کلات د آزادۍ اعلان وکړ او جناح د کلات د خان تر حاکمیت لاندې د آزاد بلوچستان په معاهده باندې دستخط وکړ یا امضاء یې کړ .

ګرانو وطنوالو په 12 Aug 1947 باندې نیویارک ټایمز کې خبر راغي چې د یوې معاهدې لاندې پاکستان کلات د یو آزاد ریاست په حیث ومنې . په 14 Aug 1947 پاکستان جوړیږي او په همدغه 15 Aug 1947 باندې په نیویارک ټایمز کې ددنیا په نقشه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آزاد بلوچستان لپاره یوه جلا نقشه ښودل سوې ده نو چې کله پاکستان جوړ سو نو جناح او د پاکستان چې کوم قانوني مشران وو هغوی ته پته وه چې د ډیورنډ د کرښې معاهده خو غلطه ده ځکه د بین الاقوامي یا بین المللي قانون مطابق چې کله د کومې کرښې په باره کې د سرحد په توګه چې کله کومه معاهده کیږي نو هغه کرښه چې په کومو کومو هیوادونو تیریږي نو په هغه معاهده به د هغه ټولو هیوادونو مشران دستخط (امضاء) کوي نودا کرښه د بلوچستان په ځمکه هم تېره شوې ده خو دبلوچستان څخه نه چاه په دې اړه کومه پوښتنه کړې ده او نه هم د بلوچستان د دولت له اړخه څه دستخط شته نو د ډیورنډ کرښې معاهدې په هغه ورځ خپل قانوني حیثیت له لاسه ورکړې دی چې په کومه ورځ دا معاهده منځته راغلې ده نو ددې غیر قانوني غلطۍ د پټولو لپاره ډېر کوښښ وکړې چې د کلات خان رضا کړي اود کلات الحاق له پاکستان سره وکړي خو په 21 February 1948 م کال کې د کلات دارالعوام یا آپرهاوس Upper house او Lower house لوور هاوس دا فیصله وکړه چې موږ د پاکستان سره الحاق کول نه غواړو او موږ خپل حیثیت د یو آزاد او خودمختار دولت په حیث غواړو بیا په 9 march 1948 کې جناح د کلات خان ته ولیکل چې زه نور ستاسو سره خط او کتابت نه کوم او اوس د کلات په باره کې به ستاسو سره خبرې د پاکستان دولت کوي ځکه د پاکستان ددولت فیصله داوه چې پر کلات به حمله کوو او پر کلات به ورخېژو .

ګرانو وطنوالو کلات 227 ورځې آزاد او خودمختاره ریاست وو او په دې 227 ورځو کې د کلات سفارت په کراچي کې موجود وو او پر هغه به د کلات بیرغ ولاړ وو او سفیر به هم هلته اوسېدې . په 26 march 1948 کې د پاکستان فوج د بلوچو چې کومې د سمندر اړخ ته علاقې وې لکه پسنی،جیواني،او تربت په هغې باندې ورننوتل او دغسې پاکستان د کلات خلاف اجراآت شروع کړل په هغه وخت کې د پاکستان پلازمینه کراچي وه اود پاکستان دولت په کراچي کې اعلان وکړ چې د کلات خان په خپل مرز یا سرحد د پاکستان سره شامل کړې حالانکه د کلات پارلمان د پاکستان سره د کلات الحاق نامنظور کړې وو اود کلات د خان څخه یط د توپک د شپېلۍ په زور دستخط اخیستي وو او کلات یې په وچ زور له پاکستان سره شامل کړې دا معاهده خو پکار وه د دوو هیوادونو پاکستان او بلوچستان په منځ کې سوې وای خو دوی په وچ زور د کلات له خان څخه دستخط واخیستې خو د پاکستان ددې جنایت خلاف نه د افغانستان دولت او نه په کوزه پښتونخوا کې د پښتنو هغه تش په نامه قام پرسته مشرانو څه عکس العمل ښکاره نکړ .

جناح امریکایانو ته ویلې وو چې زما سره مکمل معلومات دي چې روسانو په کلات کې خپل اجنټان مقرر کړې دي چې هغوی به بیا په دې خطه کې ستاسو ګټو ته تاوان رسوي او پاکستان خو ستاسو متحد هیواد دې او ستاسو سیاسي،علاقه یي،سیمه ییزو او ستراتیژیکو ګټو به په هر حال کې خیال ساتل کیږي حالانکه جناح دا بلکل دروغ ویلې وو جناح د ډیورنډ


(c) ketabton.com: The Digital Library

د کربښې چې کومې قانوني غلطۍ وې نو د هغه د پټولو په خاطر پر کلات وروختې . دلته یوه بله ډېره اهمه واقعه سوې ده لکه چې پر کلات د ورختو نه مخکې دا خبره سوې وه او هغوی (امریکا) پر کلات د ورختو خبره منلې وه ځکه چې 26 march 1948 م کې پر کلات حمله وکړه خو دهغه نه درې ورځې مخکې په 23 march 1948 م کې په پاکستان کې د امریکا سفیر امریکا ته ولیکل چې د کلات دا لاندې چې کوم ریاستونه دې لکه لاسبیلان،ښاران او مکران د پاکستان سره په خپل مرزي شامل سو نو لنډه او اوږده داچې پاکستان یو آزاد هیواد له حلقه تېر کړ خو دنیا خاموشه پاتې شوه او که فرض کړه د کلات خان دستخط کړې هم وي نوهغه 4 ځلور کاله په پنجاب کې نظربند وو او خپلو بچو به هم ملاقات ورسره نشوای کولای اود هغه دستخط هیڅ قانوني حیثیت نلري د هغه دستخط په یو تاریخ شوې دې خو پر هغه کاغذ د جناح دستخط په بل تاریخ شوې دې خو دلته یو سوال پیداکیږي فرض کړه که چیري د افغانستان ریس جمهور پاکستان ته لاړ سي اود پاکستان سره دستخط وکړي چې ما د ډیورنډ کربښه په رسمي توګه ومنل ،نو ایا د افغانستان ولس به دا خبره ومني!؟ نو موږ به دا خبره په هیڅ حالت ونه منو .

ګرانو هیوادوالو ددې علاوه په هره معاهده کې څه ګواهان یا شاهدان موجود وي خو د کلات د خان او جناح په معاهده کې یو ګواه یا شاهد هم نسته دا هم ویل کیږي چې د کلات د خان څخه په زور پر سپین کاغذ دستخط اخیستل سویدي او بیا وروسته پاکستان پرې لیکنې کړي دي .ددې نه پس بیا وروسته ځیني بلوچان د احتجاج په ډول غرونو ته وختل او د پاکستان خلاف یې مسلحانه مبارزه یې شروع کړه چې په هغې کې یو مشر نوروز خان بلوچ هم وو چې بیا وروسته د هغه سره د پاکستان فوج په قرآن شریف باندې قسم وکړ چې د غرونو نه راکوز سې او عامه معافي درکوو نو دوی په 15 May 1959 م کال کې له غرونو نه راکوز سول چې په هغوی کې د نوروز خان زامن او لمسیان هم موجود وو خو په قرآن شریف د قسم با وجود پاکستان هغه ټول بندیان کړل او د غدارۍ مقدمه یې پر وچلوله او په 1960 July 15 کال کې د نوروز خان بلوچ د کور پنځه کسان یې د حیدر اباد په جیل یا زندان کې اعدام کړل او نوروز خان بلوچ یې د ډیر عمر لکبله مړ نکړې او نوروز خان بلوچ په 1964 م کال د اکولو په زندان کې مړ سو

اناالله وناالیه راجعون

(c) ketabton.com: The Digital Library






نوروزخان بلوچ د ۱۹۵۹ د جولای ۱۵ نېټه هغه وخت چي نوموړي د پاکستان فوج لخوا په چل سره په قرآن شريف د قسم وروسته له غرونو راکوز شو خو بيرته يې زنداني کړ.

چي کله پاکستان بلوچان د خيټي نه لاندي کړل نو بيا يي د پښتنو بندوبست شروع کړ او په 1948 August 12 م کي په بابړه کي د پښتنو قتل عام وکړ حالانکه په 1948 February 23 م کي باچاخان د پاکستان په آيين سازه اسامبلي يا پارلمان کي د پاکستان په قانون د پاکستان د وفادارۍ قسم کړي وو .

ګرانو وطنوالو بيا وخت تيرېدې چي سياسي هلي ځلي شروع سوې نو شپږ مختلفي پارټۍ سره يوځاى سوې اوهغوى يوه نوې پارټي جوړه کړه چي د هغو نومونه داوه : د صوبه سرحد نه خدايي خدمتګار د باچاخان په مشرۍ ،د سند نه سندمحاذ د جی ام سيد په مشري،د سند نه بله پارټي د حيدر بش جتووي په مشرۍ کي،د بلوچستان نه ورور پښتون د عبدالصمد خان اچکزي په مشرۍ کي بله پارټي د بلوچستان نه د اسمان ګل د شهزاده عبدالکريم خان په مشري کي ،د پنجاب نه د آزاد پاکستان پارټي د ميا افتخارالدين او محمد علي قصوري په مشرۍ کي. دوى چي په شريکه کومه پارټي جوړه کړه نو نوم يې ورته نيشنل پارټي کېښود دا د کال 1956 م خبره ده.

خو بيا په کال 1957 م کي د مشرقي پاکستان نه د عوامي ليګ نه عبدالحميد بشاني يوه ټوټه راجلا کړه او په نيشنل پارټي کښې ګډه کړه او نوم يې ورته د نيشنل پارټي نه نيشنل عوامي پارټي کيښود . د پارټي صدر مولانا عبدالحميد بشاني او محمودالحق عثماني وټاکل سو او دا پارټي بيا په نيپ NAP ډېره مشهوره سوه خو په اخيره کي دا پارټي يوازي پښتنو او بلوچو ته پاته سوه او چي کله په پاکستان کي د ون يونټ One Unit مات شو او بلوچان او پښتانه په يوه صوبه يعني بلوچستان کي وتړل سول نو بلوچان سرداران نه سند ته لاړل نه پنجاب ته لاړل بلکي خپلو پښتنو ورونو صوبه سرحد ته لاړل . خيربش مرى،اکبر بګټي،ميرغوث بزنجو او عطاءالله منګل ولي خان ته راغلل خو هغوى ته څه پته (معلومات) وو چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکې وخت کې به د همدې ولي خان له لاسه د پښتنو او بلوچو د وروروليۍ په سر به له ضياءالحق سره معامله کيږي .

ګرانو وطنوالو بيا چې کله په کال 1970 م کې په پاکستان کې په لومړي ځل ټولټاکنې وشوې نو په بلوچستان او صوبه سرحد کې ټاکنې نيشنل عوامي پارټي وګټل خو د پاکستان د ټوټه کېدو نه پس وروسته په صوبه سرحد او بلوچستان کې د نيشنل عوامي پارټي او جمعيت علماء الاسلام ګډ حکومتونه جوړ سول . په صوبه سرحد کې د نيپ له اړخه ګورنر ارباب سکندر مقرر سو او په بلوچستان کې ګورنر مير غوث بزنجو او وزير اعلى عطاءالله مينګل د نيپ له اړخه مقرر کړای سول چې دا دواړه مشران بلوچان وو چې داد بلوچو او پښتنو د وروروليۍ يو لوی مثال دې خو نهه 9 مياشتې تېري شوې د پاکستان دولت ددوی حکومتونه ړنګ کړل اود پښښتنو او بلوچو 120 کسه سره د مشرانو د حيدراباد جېل ته واچول سول او په دوی د غدارۍ مقدمه شروع سوه دا د ذوافقارعلی بوټو د حکومت دوره وه.

ګرانو وطنوالو د پښتنو او بلوچو دغسې ډول وروروليې همېشه د پاکستان د اسټبلشمنټ،دپاکستان د پوځ،اود پاکستان د استخباراتي اداري ISI د سترګو ازغی وو. نو د پاکستان همېشه دا کوښښ وو چې ددوی په منځ کې نفاق پيداکړي چې اول د بلوچو په آزادۍ مين تحريکونه ختم کړي او بيا په پښتنو کې هم لاري وباسي چې کوم خلک خرڅيږي نو بيا هغه په مختلفو طريقو د ځان غلامان کړي.

او چې کوم په قام مين پشتانه دي او نه خرڅيږي نو د هغوی څخه په يو مستقبل طور ځان خلاص کړي نو چې کله ضياءالحق مارشېلا راوست او ذوالفقار علی بوټو يې ليري کړ او په پاکستان کې مارشېلا ولګېده نو ضيارالحق د حيدراباد زندان ته ولي خان ته لاړ او صرف د ولي خان سره يې ملاقات وکړې د ډېر اوږد ملاقات نه وروسته دوی يو د بل نه رخصت واخيست او يو څو ورځې وروسته ولي خان او د هغه پشتانه ملګرې له زندان نه خلاص سول او ولي خان بلوچان په زندان کې پرېښودل په هغه وخت کې به ټولو خلکو ولي ته به ډير زيات بد ويل چې ولي خان د خپلو بلوچانو ملګرو سره غداري وکړه خو خبرې پټې وې چې د ولي خان او ضياالحق په منځ کې څه خبرې او فيصلې سوې دي؟ ولي خان د ضياءالحق د مارشيلا ښه په داړه توګه مرسته وکړه څه ورځې وروسته ولي خان ته به کراچي کې آيير مارشال نورخان ډوډۍ کړې وه چې په دغه وخت کې ضياءالحق ولي خان ته ټليفون وکړ او ورته ويې ويل چې څنګه زما او ستا خبره سوې ده زه به يوه هفته پس د بلوچو د زندان څخه د خلاصون اعلان کوم نو ولي خان ورته وويل چې زه اوس په کراچي کې يم نو که دا اعلان تاسي سبا ماښام کولای سي نو زه به سبا سهار وختي د حيدر اباد زندان ته لاړشم اود بلوچو سره به لږ سپيناوی وکړم نو ضياءالحق ورته وويل چې زه درته لږ يو ساعت پس ټليفون کوم نو بيا ساعت پس ضياءالحق ولي خان ته ټليفون وکړ چې زه به سبا ماښام د بلوچو د زندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه د آزادئ اعلان کوم چي هغوی به موږ خوشي کوو داد کال 1977 Dec 31 مي خبره ده . په سبا ولي خان د حيدراباد زندان ته لاړې اود خير بش مري سره ملاو سو نو خيربش مری ته ولي خان وويل چي تاسي مسلح جدوجهد شروع کړې دې او بلوچان مو غرونو ته لېږلي دي او موږ خو په عدم تشدد باندې عقيده لرو نو پدې وجه او دا خبرې زموږ خوښي ندي بل تاسو د کمونستانو سره رابطې ساتلي دي نو په دې وجه زموږ او ستاسي لاري جدا سوې دي نو خيربش مري ولي خان ته وويل چي موږ خو ستاسي سره يوځای په جېل کې وو نو موږ څه وخت غرونو ته خلک وخېژول او موږ د کمونستانو سره بيا څه وخت رابطې وساتلي ؟ او نه موږ د هغوی د رابطو حخه خبر يو او نه موږ ته د هغې مطابق څه علم شته بيا وروسته خيربش مري زياته کړه چي موږ په نيشنل عوامی پاټی کي ستاسو ملګري وو ته زموږ مشر وې نو موږ دې په جېل کي پرېښودو او ته زموږ څخه لاړې نو ولي خانه ځه!اود ضياءالحق سره دې په هر پروګرام معامله کړېده نو هغه پروګرام دې په مخه باندې يوسه خو ولي خان ورته وويل چي زموږ لاري نور جدا دي او دهغه څخه راپاڅېدی. نو بيا ولي خان ميرغوث بزنجو ته لاړې او هغه ته يې هم دا بابولاله سندره وويله نو ميرغوث بزنجو ولي خان ته وويل چي ګوره زه تاته يوه خبره کوم بلکي ورغاړه سو او په ژړا سو او ورته يې وويل چي ولي خانه په ژوند خو درنه نه جداکېږم صرف په مرګ به درنه جداکېږم خو ولي خان هغه له ځان نه جدا کړ او ورته يې وويل چي زموږ لارې جدا سوې!.



خان عبدالولي خان
(ولی خان)

نو ګرانو وطنوالو د پښتنو او بلوچو ورورولي او اتحاد د ضياءالحق او ولي خان د سازش په وجه تباه او برباد سوه.خو دلته يو سوال راپيداکيږي چي ولي خان د هغه بلوچو څخه ګيله کوي چي هغوی د ولي خان سره په زندان کې پراته وو چي دوی د تشدد لاره اختيار کړې ده او ولي خان دوئ د عدم تشدد پيروي قام دي نوچي کله د ولي خان په مشرئ کي په کوزه پښتونخوا کي بمونه اچول کيدل نو په هغه وخت کې عدم تشدد چيرته وو !؟ او چي ولي خان هغوی ته ويل چي تاسو کمونستانو سره خبره کړې ده نود نيشنل عوامي پارټئ يو جنرل سکرټر افضل بنګښ پاته سوې وو او بل جنرل سکرټر اجمل ختک پاته سوې وو چي دا د ولي خان سره د پارټئ جنرل سکرټران وو نو ايا دا دواړه کمونسټان نه وو !؟ بل اړخ ته له بده مرغه چي اوس په موجوده وخت کي بلوچستان کي کوم بنده ځانته قام پرست وايي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو په نوم سیاست کوي هغه خو قسم کړې دې چې د بلوچو او پښتنو تر منځ چې څومره د پښتنو او بلوچو د نفاق اور ته لمن وهلای سي نو وهي به يې او دغسي هغه د پاکستان د اسټبلشمنټ پروژه پر مخ باندي وړي ،خو بل اړخ ته په محکوم افغانستان یا کوزه پښتونخوا کي چې چیرته هم په پښتنو یا بلوچستان کي په بلوچو ورونو باندې د پاکستان له طرفه زور زیاتی شوې دې نو آزاد افغانستان دولتونو او ولس ورته په اوار تندي هرکلی ویلې دې اود خپلو ورونو په شان يې خپلي سینې ته رانژدې کړي دي .

او زما ځاني ملاقات په کابل کې د خیربش مري سره د هغه په کور کي شوې وو .

ګرانو وطنوالو د کال1948 نه به هر حال د شپې یو ساعت یا ګهنټه د کوزي پښتونخوا د پښتنو لپاره د کابل راډیو نه یو پروګرام خپرېدې خو چې کله داؤدخان په 1973 م کال کې په اقتدار کې راغلې نو دا پروګرام د پښتنو اوبلوچو په نوم واړول سو او ورسره يې د قبایلو یو مستقل ریاست نه د سرحداتو وزارت جوړ کړ.

ګرانو وطنوالو موږ افغانان او بلوچ ورونه د جغرافیې د لحاظه سره هم لاس لستونې یو د بلوچستان یو اړخ ته سمندر دي بل اړخ ته يې پاکستان دې چې هغه د بلوچو دښمن دې ، دریم اړخ ته ایران دې چې هغه هم د بلوچو دښمن دي خو واحد افغانستان دې چې هغه د بلوچستان ښه ګاونډی او ورور هیواد دې.

ګرانو وطنوالو د مرکزي آسیا ټول هیوادونه به د افغانستان په سینه تیریږي او د ګوادر بندرګاه څخه به استفاده کوي او دغسي د بلوچستان هیواد د ترقی په لور ګام اخیستونکی شي . دبلوچستان آبادي او ترقي د افغانستان آبادي او ترقي ده او دغسي د افغانستان آبادي او ترقي د بلوچستان آبادي او ترقي ده :

ګرانو ورونو خویندو او بچو،زه د کوزي پښتونخوا پښتنو او د بلوچستان بلوچو ته یو خواست کوم چې زموږ د ټولو منزل یو دې چې هغه د پاکستان څخه آزادي ده او زموږ دښمن هم یو دې چې هغه پاکستان دې نو راځئ چې د ورونو په شان لاسونه سره ورکړو او د پاکستان څخه ځان خلاص کړو که نه نو؛دا ویني به نه په لر کي نه بر کي او نه بلوچستان کې بندیږي .

## تل دي وي د افغانستان او محکوم افغانستان او بلوچستان د ولس په منځ کي د وروروڵی تړون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوی افغانستان د غورځنګG.A.M

# رهبر

# مشال خان تکړ



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**